93

# وړيا او با کيفيته زده کړې د افغان کوچنيانو لــــپاره

د تيرو ٦ کلونو په ترڅ کې د ښوونځيو د شموليت په کچه کې د ۵۰۰ فيصده زياتوالي سره سره د افغانستان نيمائي کوچنيان تر اوسه هم لا ښوونځي ته د تلو څخه بې برخې دي. د ولسواکۍ د رامنځته کيدو سره سم، د ملي پرمختيا اساسي سمبول د هر کوچني – هلکانو او نجونو – د زده کړې د هيلې سره تړاو لري. خو بايد وويل شي چې د دغه هيلې د پوره کيدو په لار کې ډير خنډونه پراته دي.

د کورنيو ونډه په ښوونه او روزنه کې په بې ساري توګه په ټيټيدو ده او په ښوونځيو کې د نويو کوچنيانو د شامليدو د مخنيوي لامل ګرځي. د ښوونځي زده کوونکي د تعليمي توکو، درسي کتابونو، او ښوونکو د کموالي سره مخامخ دي. د بيلابيلو اړوندو مراجعو له خوا د پوهنې په سکټور کې د بودجې تخصيص او مصارف په پراخه توګه نا همغږي دي او روښوالې نلري. دغه معلوماتي سند ځينې اساسي انديښنې په ګوته کوي او همدارنګه يو پلان وړاندې کوي چې له امله ئې نه يواځې د مالي وجوه زياتوالې غواړي، بلکه د پوهنې په وزارت او د پوهنې په سکټور کې د نورو فعالينو تر څنګ د بودجې د تخصيص او پلان جوړولو د ريفورم غوښتنه هم کوي.

Oxfam International

## لنډيز

*زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د ثانوي تر دورې پورې وړيا د دولت له خوا تامينيږي.*

*د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون ۴۳ (۱) ماده*
*چې د ۲۰۰۶ کال د جولای د مياشتې په ۱۱ مه نيټه توشيح شو*

افغانستان د هغه ملت په توګه چې د ۲۳ کلونو شخړو څخه اوس اوس د راوتو په حال کې دی، بې له شکه د پوهنې په سيستم کې د بې سارو ننګونو سره مخامخ دی. د پوهنې نړيدلې زيربنا ء بايد بيا ورغول شي او ښوونځيو ته د زياتيدونکې ګواښ په درشل کې بايد د پوهنې ملاتړ وشي.

څومره چې د پوهنې د ساحې پراخوالي اهميت لري هغومره د پوهنې د کيفيت څخه ډاډ تر لاسه کول هم د اهميت وړ دی. د اکثرو هغو کوچنيانو سره چې د ښوونځيو څخه بهر دي نه يواځې دا چې بايد د ښوونځې په رسمي سيستم کې د شامليدو په برخه کې مرسته وشي بلکه دوی سره بايد مرسته وشي تر څو په ښوونځې کې پاتې شي. دغه په اجباري توګه د وړيا او د ښه کيفيت لرونکې ښوونې او روزنې برابرول د افغانستان د اوسيدونکو ګډه هيله جوړوي.

دغه معلوماتي سند د هغو ننګونو پراخوالي چې د افغانستان پوهنې ورسره مخامخ دی او همدارنګه د دغو ننګونو بودجوي اثرات تر څيړنې لاندې نيسي.

افغانستان بايد د دې توان ولري چې په بې ساري توګه په ښوونځيو کې د شامليدو د کچې د پراخوالي او دې سره سم د شامليدو د غوښتنو د زياتوالي، په ځانګړي توګه د نجونو په برخه کې چې په دوامداره توګه د ښوونې او روزنې څخه بې برخې پاتې دي، جوګه شي. دا رپوټ د لومړي څخه تر ۱۲ ټولګې باندې ټينګار کوي ( يعنې لومړنيو، منځنيو او عالي ښوونځيو ته د مالي وجوه په برابرولو).

دغه سند په افغانستان کې د پوهنې د خدمتونو د وړاندې کولو د څو ګونو اړونده مراجعو په پيژندنه پيل کوي. په دوهمه برخه کې په مفصله توګه د عرضې (اکمالولو) او د تقاضا د فشارونو د څيړنو په ترڅ کې د پوهنې د مالي وجوه د برابرولو په برخه کې د اساسي پاليسي لومړيتوبونه په ګوته کوي. دريمه برخه په افغانستان کې د بيلابيلو اړونده مراجعو په کچه د پوهنې د مالي وجوه د برابرولو څو بعديز بهير په دې موخه تشريح کوي تر څو وکولای شي هغه اساسي ساحې چې په هغوی کې مداخله کول په پراخه توګه د کړنلارو او جوړښتونو د نا اغيزمنتيا د کمولو لپاره اړين دي، په روښانه توګه وښائي.

## 1. د پوهنې لپاره پيسې

*نن مونږ د خوښي آواز پورته کوو...[ د ښوونځي د کوچنيانو په يوه سيمه کې] تاسو زمونږ د پرتمين هيواد راتلونکي ياست.*

*د حامد کرزي، د افغانستان د اسلامي جمهوريت*
*د انتقالي دورې صدراعظم، د ويناوو څخه؛*
*په کابل کې د اماني د عالي ليسې په پرانيستونکي غونډه کې،*
*د ۲۰۰۲ کال د مارچ په مياشت کې ښځينه زده کوونکو ته په وينا کې [1].*

د ۲۰۰۱ ميلادي کال څخه را پدې خوا ښوونځيو کې د شامليدو کچه په چټکۍ سره اوچته شوې ده (لومړي تصوير کتنه وکړئ). په اوس مهال کې شاوو خوا ۵ ميليونه کوچنيان په ښوونځيو کې شموليت لري – يعني دا چې د ۲۰۰۳ کال په پرتله چې ۱,۳ ميليونه زده کوونکو په ښوونځيو کې شموليت درلود، ۵۰ فيصده زياتوالي راغلی. دغه شميره په ۲۰۰۱ [2] کال کې د طالبانو د راپرځيدو څخه را پديخوا په شموليت کې دهغې ۳۵۰ فيصده زياتوالي سربيره ګڼل کيږي. د افغانستان اساسي قانون د ښووني او روزنې په هکله خپله ژمنه تکراروي او پوهنې ته د يو حق په سترګه ګوري او بيانوي چې ښوونه او روزنه بايد د لومړي ټولګي څخه تر ۹ ټولګي پورې (يعني تر منځنۍ دورې پورې) وړيا وي.

لمړی تصوير: په افغانستان کې په ښوونځيو کې د شموليت وده




سرچينه: افغانستان: د پرمختيا لپاره د عامه مالي شتمنيو تنظيم (پنځه ټوکه دی) څلورم ټوک:
د عامه مالي منجمنت وده: د ټاکلو سکټورونو د قضيو مطالعه، ۲۹ مخ، نړيوال بانک

خو په حقيقت کې بايد وويل شي چې تر نيمائي څخه زيات افغان کوچنيان – د ۷ ميليونو په شاوو خوا کې – ښوونځيو ته د تللو څخه بې برخې دي. " د افغانستان ترون ليک" چې د ۲۰۰٦ کال په لومړيو کې پرې موافقه شوې يو لړ اوچت معيارونه چې بايد د زده کړو په برخه کې تر ۲۰۱۰ کال پورې تر لاسه شي ټاکلي دي. خو د اوسنيو شرايطو په پام کوې نيولو سره د دغو يو شمير زياتو موخو ترلاسه کول ناشوني برييني، مګر دا چې ټولو ته د زده کړو د برابرولو لپاره د پيسو د چمتو کولو په ژمنو کې په ډراماتيکه توګه ښه والي راشي (لومړې جدول). اوسنۍ منډې ترړې کافي ندي.

که چیرې داسې وي چې باید په عمومي توګه د نجونو او هلکانو د شمولیت په هکله د افغانستان زرکلنی پرمختیائي موخې تر ۲۰۱۵ کال پورې تر لاسه شي نو د پالیسي ریفورم ته په اساسي توګه اړتیا لیدل کیږي. تر ټولو څخه به مهمه دا وي چې د پوهنې وزارت باید د اساسي زده کړو د همغږي کولو لپاره واحد چوکاټ ولري؛ خپلې کارې وړتیا ته پاملرنه وکړي تر څو وکولای شي مالي وجوه تنظیم او د څو ګونو اړونده مراجعو د وړتیا څخه ګټه پورته کړي او سر بیره پر دې هغه پروژې چې د مرستندویانو له خوا حمایه کیږي همغږي کړي.

| لومړۍ جدول: د زرکلنو پرمختیایي موخو سره په یووالي کښې د ۲۰۱۰ کال لپاره د افغانستان د ترون | |
|---|---|
| د ۲۰۱۰ کال لپاره معیارونه | په ۲۰۰۶ کال کښې اوسنی حالت |
| په لومړنیو ښوونځیو کښې د خالص شمولیت کچه | په لومړنیو ښوونځیو کښې د خالص شمولیت کچه |
| په ټولو منځنیو ښوونځیو کښې به نوی نصاب په | د منځنیو ښوونځیو لپاره د نصاب د ترتیبولو کار 2006 کال د اکتوبر د میاشتې پورې به بشپړ کړای شي. د 9 لومړنیو ټولګیو څخه د 4 ټولګیو نصاب بشپړ شوی، خو 6.2 میلیونه درسي کتابونه به په راتلونکې کې وویشل شي. [4] |
| د ښځینه ښوونکو په شمیرکې به ۵۰% زیاتوالی | یوازې 28% ښوونکې ښځې جوړوي. [5] |
| د افغانستان ۷۰% ښوونکې به د مهارتونو آزموینه | د ۲۰۰۵ میلادي کال په هغې سروې کښې چې د |
| د زده کړو د لاسته راوړنو د ارزوونې لپاره به یو | په آوس مهال کې یوازې پوهنتون کښې د شاملیدو |

په افغانستان کې د پوهنې بودجه د بیلابیلو سرچینو له خوا برابرېږي (۲ تصویر). [8] د دغو اړونده مراجعو په منځ کې همغږي اړینه ده تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د پوهنې سیستم په یو شان فعالیت کوي او د اوږدمهاله پایښت لپاره چمتو دی. له دې امله دغه برخه د پوهنې د فعالینو د رول ارزونه کوي تر څو په افغانستان کې د پوهنې د برابرولو راتلونکې پایښت او همدارنګه د زرکلنو پرمختیایي موخو او د افغانستان د ترون لیک د موخو د ترلاسه کولو لپاره د وړتیاوو لوړول په ډاګه کړي.

۲ تصویر: په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونو کښې د پوهنې لپاره مالي سرچینې




سرچينه: بيلابيلې سر چيني

**۱. حکومت**

حکومت يواځې د پوهنې د مالي وجوه په ٦٢ فيصده باندې چې يا د خپلو عوايدو له لارې او يا هم د دولت اساسي انکشافي بودجې ته د مرستندويانو د مرستې له لارې لاسته راځي مستقيم کنترول لري.

د ماليې وزارت په پام کې لري تر څو د هيواد عوايد د خپلو مالياتو د پورته کولو له لارې زيات کړي تر څو حکومت وکولای شي لږ تر لږه خپل عادي لګښتونه په منځ مهاله موده کې تر پو ښښ لاندې راولي. د ماليې وزارت بايد لږ تر لږه ۲۰ فيصده مالياتي عوايد د پوهنې چارو ته په راتلونکي کې ځانګړې کړي.

د افغانستان مالياتي عوايد د پام وړ زياتوالي په حال کې دي. په روان مالي کال کې د عوايدو ۱۷,۳فيصده د پوهنې په برخه کې لګول کيږي. د دې لپاره چې د پوهنې په برخه کې د کافي مالي وجوه د برابريدو څخه ډاډ تر لاسه شي، نو د ماليې وزارت ته پکار ده تر څو لږ تر لږه د پوهنې لپاره د خپل کلني عوايدو څخه ۲۰ فيصده بيلې کړي. د دغه موډل پر بنسټ د مالي وزارت بايد په دې وتوانيږي چې د پنځو کلنو په ترڅ کې د پوهنې په برخه کې هر کال ۱۰۰ ميليونه ډالره تخصيص ورکړي. [9]

يوه بله موضوع چې د اهميت وړ ده هغه داده چې د پوهنې لپاره بايد د مرستندويانو مالي وجوه د حکومت د اساسي پرمختيائي بودجې له لارې د سکټور په کچه د بودجې د پياوړتيا لپاره وکارول شي. که څه هم ښکاره ده چې په دغه سيسټم کې لا تر اوسه ستونزې شته خو دغه کار د دولت لخوا د زده کړو د خدمتونو د دوامداره برابرولو تر ټولو غوره او اوږد مهاله هيله بللې کيږي.

**2.1 مرستندويان**

مرستندويان او نړيواله ټولنه د افغانستان په بيا ودانولو او بيا رغونه کې ډيره مهمه ونډه لوبوي او د پوهنې په سکټور کې په پراخه کچه مالي مرستې، د پروګرامونو د پراختيا او د خدمتونو د برابرولو په چارو کې مرستې کوي. د دوی ټولې مالي مرستې د ۲۰۰۵او ۲۰۰٦ مالي کال لپاره شاوخوا ۱۲۵,٦ ميليونه ډالره دي. USIAD . د سترو مرسته کوونکو څخه دي (دريم تصوير) او همدا رنګه نړيوال بانک په عادي بودجه کې د پيسو د برابرولو په برخه کې ډيره اساسي ونډه لري. چې د تنخواګانو او نورو اداري لګښتونو ۵۵ فيصده برخه د ابتدائي اصلاحاتو او بيا رغونې يا PRR د پروګرام له لارې ورکوي. [10]

مرستندویان د اصلي بودجې، پر مختیائي بودجې او بهرنۍ بودجې په برخو کې پیسې برابروي. په اصلي او پرمختیائي بودجو کې د لګښتونه برابرول په نسبي ډول آسانه دي او هغه مرستې چې مرستندویه هیوادونه ئې د حکومت سره کوي د اهمیت وړ دي. خو باید وویل شي چې مرستندویه هیوادونه د بهرني بودجې په برخه کې هم پیسې ورکوي، چې دغه بودجه د اصلي او پرمختیائي بودجو په پرتله خورا لویه ده - په اساسي ډول خصوصي او نا دولتي موسسو له لارې- او دغه بودجه د دولتي پروګرامونو د پلي کولو په برخه کې کارول کیږي.

مرستندویان د حکومت اصلي پرمختیایي بودجې سره د مرستې له لارې په مستقیم ډول یو شمیر تخنیکي خدمتونه وړاندې کوي لکه وزارتونو ته د ستراتیژیکو پلانونو د جوړولو په موخه د مشاورینو استول، د ظرفیت د لوړولو د پروګرامونو پر مخ بیول، د درسي کتابونو خپرول، د ښوونځیو پر مخ بیول، د دیتابیسونو جوړول او د نادولتي او خصوصي سکټور له لارې د ښوونځیو بیا رغول او بیا ودانول.

**دریم تصویر: د ۲۰۰٤تر۲۰۰۷ (۱۳۸۳ تر ۱۳۸۵) په موده کې د ټاکل شوو مرستندویانو لګښتونه**




سرچینه: بیلا بیلې سرچینې، د مرستندویان سره د خبرو اترو په شمول. په مرستندویو ټولنه کې د بیلابیلو کړنګلارو له امله شوني نده تر څو په دقیق ډول د مرستندویان د کلني لګښتونه اټکل وشي.

## ۱.۳ پوځ

په افغانستان کې د نړیوال میشت پوځي ځواکونه لکه د متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې ائتلاف، ناټو او د ثبات د ټینګښت نړیوال ځواک ( ISAF) د دندو د یوې برخې په توګه " د زړونو او فکرونو"عملیات شامل کړي دي. دغه عملیات د بیلا بیلو فعالینو لکه د ولایتي د بیا رغونې د ټیمونو ( PRTs)، محاربوي کنډکونو او د کابل د څو ملیتیزه لوا لخوا پلي شوي دي چې د پوهنې د بنسټ د بیا ودانولو په ګډون د بیا رغونې اړوندې چارې پکې شاملې دي. د بیلګې په توګه د کابل په ولسوالیو کې د فرانسوي کنډک لخوا د پوهنې بکسې وویشل شوې او همدارنګه د دوی په مرستو کې د ښوونځیو ودانول، بیا رغول او د تشنابونو جوړول هم شامل وو. [11] همدا رنګه مرستندویان د پرمختیایي چارو سلاکاران ( په اساسي توګه د USIAD ، DFID ،او GTZ) د ولایتي بیا رغونې په ټیمونو کې ځای پر ځای کوي تر څو د ولایتي پروژو د قراد داد په چارو کې مرستې وکړي او دغه راز د پوځي فعالینو سره د پروژو د پیژندې په برخه کې مرسته وکړي. د متحده ایالاتو پوځي ځواکونه په تیرو څو کلونو کې د پوهنې په برخه کې نږدې د کال ۲۰ میلیونه ډالره لګولي دي، [12] چه د سرکونو د ودانولو څخه وروسته د دغه ځواکونو د دوهم ستر لومړیتوب څخه شمیرل کیږي( څلورم تصویر).

همدا رنګه د پوهنې چارې د ناټو تر مشرۍ لاندې ځواکونو ته هم د لومړیتوب ځای لري که څه هم د پیسو بهیر د ایساف د ولایتي بیا رغونې ټیمونو ته په لړه کچه دي او د دې پیسو د دقیق مقدار تخمینول ناشونې بریښي.

**CERP د ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کلونو د بودجې له لارې د ائتلاف د ولایتي بیا رغوني د تیمونو مصارف (۱۳۸٤)**




سرچینه: د ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کلونو لپاره د ائتلاف د ځواکونو مالي رپوټ

### ٤. ۱ نا دولتي موسسې (NGO)

په افغانستان کې د کلونو راهیسې نادولتي موسسو د پوهنې په سکټور کې کار کړی دی. د *مجاهدینو* او کورنیو جګړو په دوره کې نادولتي موسسو په ټولنه کې میشت ښوونځیو باندې تمرکز کاوه. په وروستنیو دورو کې بیا د نادولتي موسسو او طالبانو ترمنځ چې پوهنې ته د نجونو په لاس رسي ئې بندیزونه ولګول، پراخ کړکیچ رامنځته شو. د طالبانو د را پرځیدو څخه راپدېخوا د نادولتي موسسو رول په سیاسي چاپیریال کې په چټکۍ سره وده کړې ده.

لدې امله چې د مرستندویانو نږدې ټوله هغه بودجه چې د پوهنې په برخه کې مستقیماً دولت ته نه ورکول کیږي نادولتي موسسو ته لار پیدا کوي، نو نادولتي موسسې د پوهنې د خدمتونو د اساسي برابروونکو په څیر رابرسیره شوي دي. نادولتي موسسې په ملي، ولایتي، ولسوالیو، کلو او بانډو او د ښوونځیو په کچه فعالیت کوي او یو شمیر زیات فعالیتونه د حکومت د دفترونو سره د مرکز او د سیمې په کچه همغږي کړي. دغه فعالیتونه یوه پراخه ساحه تر پوښښ لاندې نیسي لکه ښوونځیو ته د مواد برابرول، د ښوونکو د معاشونو په ورکولو کې مرسته، د ښوونځیو د زیربنا جوړول، د تعلیمي نصاب په طرح کولو کې مرسته او د زده کړې د ملي پروګرام پلي کول.

یو زیات شمیر نادولتي موسسې د دې حقیقت څخه ملاتړ کوي چې حکومت دې باید د پوهنې په برخه کې د خدمتونو د برابرولو رهبري وکړي. دوی پدې باور دي چې نادولتي موسسې او نړیوالې اداري باید د دې وس

SCA) پدې وروستيو کې ٤٠٠ ښوونځي د افغانستان حکومت ته وسپارل او همدارنګه د پاملرنې نړيواله اداره دولت ته د خپلو ښوونځيو د سپارلو په بهير باندې کار کوي. [13]

د بيلابيلو اړونده مراجعو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کيدل د افغانستان د پوهنې په سيستم کې تر ټولو مهم او اساسي عنصر ګڼل کيږي. د زرکلنو پرمختيايي موخو او د افغانستان د تړون ليک د موخو د لاسته راوړلو لپاره په ريښتينولۍ سره هڅه او هاند کول به دې ته اړتيا ولري چې ټول فعالين د خپلو کړنو د همغږۍ کولو او په ګډه سره د کار کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي تر څو د افغانستان د پوهنې سيستم په دې وتوانيږي چې د يو زيات شمير افغان کوچنيانو اړتياوې پوره کړي.

## ۲. زده کړو ته لاس رسي

*مونږ نشو کولای د افغانستان ماشومان نا هیلي کړو.*

*لخذر ابراهیمي*
*افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خاص استاذي، د مارچ میاشت، ۲۰۰۲ میلادي کال* [14]

سره لدې چې د افغانستان په پوهنې کې بیلابیل اړونده مراجع ونده اخلي، خو د دې ونډې پراختیا تر هغې ژمنې چې دوی ٦ کاله پخوا کړې وه خورا ټیټه ده. د ٥ میلیونه کوچنیانو په وړاندې چې په ښوونځیو کې دي، اټکل کیږي چې ۷ میلیونه کوچنیان د ښوونځیو څخه بهر وي. [15] په اوس مهال کې په هیواد کې په لومړنیو، منځنیو او عالي ښوونځیو کې د زده کوونکو د خالص شمولیت کچه یوازې ٤۲ فیصده ده. همدارنګه د هلکانو او نجونو د شمولیت تر منځ هم په پراخه توګه توپیر تر ستوګو کیږي. په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې کوچنیان ښوونځیو ته په ډیره کمه اندازه او یا هم هیڅ لاس رسې نلري او پدې توګه په بیلابیلو سیمو کې زده کړو ته د لاس رسی له امله د پام وړ توپیرونه شته دي.

پدې شرایطو کې نجونې تر ټولو زیات بې برخې پاتې دي. په هغو کوچنیانو کې چې ښوونځیو کې ئې ګډون درلود، په ۲۰۰٥ او ۲۰۰٦ کلونو کې یوازې د دریو څخه یوه برخه ئې (یعنې 1.7 میلیونه) نجونې وې (۲ جدول). حتی په ابتدایه کچه کې هم نجونې د هلکانو د شمیر سره برابرې ندي: د هلکانو او نجونو تر منځ په ابتدایه ښوونځیو د شمولیت کچه څه نا څه ثابته پاتې ده سره لدې چې په ټولیزه توګه په شمولیت کې زیاتوالي راغلی دې. د منځنیو ښوونځیو په کچه، دغه شمیره لا نوره هم ناوړه بریښي. د اوچت عمر لرونکي نجونې په ځانګړې توګه د شمولیت ټیټه کچه ښیي یعنې د نجونو ٥ فیصده پداسې حال کې چې د هلکانو لپاره دغه فیصدې ۲۰ ته رسیږي.

| دوهم جدول: په افغان ښوونځیو کې د زده کوونکو شمیر، ۲۰۰٥ ـــ ۲۰۰٦ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جنس | ابتدایه | منځني | عالي ښوونځی | مجموع |
| نارینه | 2,769,163 | 348,934 | 143,087 | 3,261,184 |
| ښځینه | 1,538,879 | 113,445 | 38,293 | 1,690,617 |
| مجموع | 4,308,042 | 462,379 | 181,380 | 4,951,801 |

سرچینه: د زده کړې د تنظیم معلوماتي سیسټم (EMIS ) د ۲۰۰٦ کال د جولای د میاشتې دریمه

د هغو محدودیتونو ماهیت چې زده کړو ته لاس رسی باندې اغیزه اچوي په عمومي توګه دوه ډوله دي. د عرضې (اکمالولو) او د تقاضا اړخونه

### ۱. ۲ د اکمالاتو له اړخه محدودیتونه

*ښوونې او روزنې سره د ملت د جوړولو په بهیر کې د یو اضافي عنصر په توګه معامله شوې.*

*جینین سپنک، په زور سره د مهاجرتونو ارزونه* [16]

افغانستان د جګړې څخه د وروسته هیوادونو په څیر، د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو په ترڅ کې په پراخه توګه د مالي مرستو څخه برخمنه شوه. [17] د پوهنې وزارت په پرله پسې توګه زیار ایستې چې د خپلې رهبرۍ ښکاره لاسته راوړنې په نمایش کیږدي. ښوونې او روزنې په حکومت کې خپل مرکزي رول ساتلې او په عمومي توګه داسې انګیرنه شته چې حکومت د پوهنې د خدمتونو اساسي برابروونکې دی [18] او همداسې دې باید پاتې شي. په اوس مهال کې حکومت په خپله د ۹۷ فیصده ښوونځیو چارې پر مخ بیایي. خو باید وویل شي چې د کیفیت لوړوونکي او

## ښوونکي

### زيات شمير ښوونکي بايد وروزل شي

په ټول افغانستان کې د ۱٤۰۰۰۰ څه تر ۱٤۳۰۰۰ ښوونکي شته، خو بايد وويل شي چې يو زيات شمير ښوونکو، د هغوئ روزلو او په ځانګړي توګه د زياتو ښځينه ښوونکو ګمارلو ته اړتيا ليدل کيږي. د موجوده اطلاعاتو له مخې، اکسفام تخمين کوي چې په افغانستان کې د ۵۲،۷۲۲ ابتدائي روزل شويو ښوونکو بشپړه کمښت موجود دي. [20] همدارنګه اټکل کيږي چې د نورو ٦۳،٦۱٦ ابتدائي روزل شويو ښوونکو ګمارلو ته اړتيا شته تر څو په راتلونکو پنځو کلونو کې د زده کوونکو په شموليت کې د اټکل شوي زياتوالي په پايله کې رامنځته شوو اړتياوو ته ځواب ووائي. [21] په ښکاره توګه ښځينه ښوونکو ته زياته اړتيا ليدل کيږي ځکه په اوس مهال کې يواځې ۲۸ فيصده ښوونکي ښځې دي. [22]

په ټولو کې يواځې ۱۷ فيصده ښوونکي مسلکي دي (يعنې دا چې د ۱۲ ټولګي څخه ئې اضافه زده کړې کړې دي). [23] د يوې څيړنې په ترځ کې چې په ۲۰۰۵ کال کې د هيواد په شمال کې تر سره شوه يو عمده ستونزه رابرسيره کړه – هغه دا چې ښوونکو د هغه مضمون تدريس کاوه چې مهارت ئې پکې نه درلود؛ کله چې د ۲۰۰ لومړنيو ښوونځيو د ښوونکو څخه غوښتنه وشوه چې په هغه آزموينه کې چې د دوئ د زده کوونکو څخه اخيستل کيږي ګډون وکړي، نو يواځې د دوئ ۱۰ تنه ښوونکي پکې برياليي شول. [24] د ښوونکو لپاره د ۳۷ پلان شويو روزنيز مرکزونو څخه يواځې ۲۲ ئې فعاله دي چې د اکثرو وړتيا ئې کمزوري ده. [25] پداسي حال کې چې ښوونکو لپاره د داخل خدمت روزنيز نصاب طرح شوې تر څو د هيواد ۱۰۰۰۰۰ ښوونکو ته څلور اونيز روزنيز کورس وړاندې کړي خو په ملي کچه ئې تر اوسه پيل کولو ته پام ندې شوې. [26] دريم جدول همدارنګه ښکاره کوي چې د هر زده کوونکي په سر د ښوونکو شمير په پراخه توګه د هيواد په کچه توپير لري او دا د دې ښکارندوي کوي چې د ښوونکو بيا ځای پر ځای کولو ته اړتيا شته.

| دريم جدول: د افغانستان په دريو ټاکلو ولايتونو کښې د زده کړې د زيربنا ء او د ښوونکو نا انډوله | | | |
|---|---|---|---|
| | بدخشان | کندهار | دای کندي |
| د زده کوونکو ښوونکو تناسب | 27 | 58 | 45 |
| د زده کوونکو ښوونځيو تناسب | 526 | 502 | 206 |

سرچينه: د EMIS د ۱۳۸٤ کال او د اکسفام ارزونه

د ۲۰۰٦ کال په لومړيو کې په هر کال کې د نورو ۱۰،۰۰۰ ښوونکو د استخدامولو لپاره بودجه موجوده وه، خو دا کافي نده او بيړنيو اقداماتو ته اړتيا شته تر څو د روان کال لپاره لږ تر لږه ۵۳،۰۰۰ اضافي ښوونکي وروزل شي. د ښوونکو روزنيز پوهنتونونه دې بيا ورغول شي او د ښوونکو د داخل خدمت روزنيز کورسونه دې د هيواد په ټولو برخو کې پلي کړای شي.

### ښوونکو ته دې د ژوند د پر مخ بيولو لپاره په خپل وخت تنخواوې ورکړل شي

د اکسفام يوه ابتدائي سروې دا ښکاره کوي چې ښوونکي اکثراً نشي کولای په خپل ټاکلي وخت خپلې تنخواوې تر لاسه کړي. سر بيره پر دې ښوونکي د هيواد په کچه په عين اندازه پيسې نه ترلاسه کوي. د دايکنډي په ولايت کې د ښوونکو اکثره برخه په مياشت کې د ۳۸ ډالرو (۱،۹۰۰ افغانيو) څخه کم معاش لري پداسي حال کې چې دغه اندازه د ملي منځنۍ کچې يعنې د ۵۰ ډالرو (۲۵۰۰ افغانيو) څخه په کافي اندازه ټيټه ده. [27]

دغه راز توپیرونه او ځنډ په جدي توګه د ښوونکو روحیه ټیټوي او که چیرې حکومت غواړي زرکلني پرمختیایي موخې تر لاسه کړي، معاشونو کې دې زیاتوالې راولي، فساد دې له منځه یوسي او د وخت له پلوه دې د معاشونو د تادیې حالت ښه کړي.

## مجازي مامورین

اټکل کیږي چې د ۱٦،۰۰۰ څخه تر ۲۰،۰۰۰ ښوونکي دې مجازي مامورین وي.[28] ښائي دوی هغه ښوونکي وي چې دندو ته نه حاضریږي یا یوازې تنخواه اخلي او همدارنګه هغه ښوونکي دي چې د یو ځل څخه زیات معاشونه اخلي ځکه چې دوی ځانونه د یو ځل څخه زیات راجستر کړي دي. د ښوونکو د ملي او ولایتي دیتابیز جوړول او د ټولني لخوا پر ښوونکو باندې نظارت کول به وکولای شي اړوند وزارت ته شاوخوا ۱۲ میلیونه ډالره (٦۰۰ میلیونه افغانۍ) سپما کړي. یعني د هر یو ښوونکي په وړاندې په هره میاشت کې ۲۵۰۰ افغانۍ دي. دغه کړنه به د ۳۰،۰۰۰ ښوونکو چې د پوهنې د وزارت د اټکل له مخې په ٥ راتلونکو کلونو کې ورته اړتیا لیدل کیږي د معاشونو د ورکړې په برخه کې مرسته وکړي. د پوهنې وزارت لا د مخه د ښوونکو د ثبتولو یو جدي پروګرام طرح کړې دي تر څو دغه ستونزه حل کړي او مونږ هم د ټولو اړونده مراجعو څخه غوښتنه کوو چې د دغه اساسي نوښت د بریالیتوب لپاره کار وکړي.

## د زیربناوو بیا رغونه

هلکانو او نجونو ته په ښوونځیو کې د نه شمولیت یو بل مهم دلیل دا حقیقت دی چې تر ټولو نږدې ښوونځي د کور څخه خورا لرې پروت دی. په میلیونونو افغان کوچنیان زده کړې ته لاس رسي نلري دا ځکه چې په کافي اندازه ښوونځي او ښوونکي وجود نلري چې وکولای شي په یوه جګړه ځپلي سیمه کې د یو زیات شمیر زده کوونکو د اړتیاوو ځواب ووائي. د ملي خطر او د حساسیت د ارزوني سروې ( NRVA ) په ۲۰۰٥ کال کې په روښانه توګه په ډاګه کوي چې د ښوونځیو موقعیت او یا هم د ښوونځیو نشتون، پوهنې ته د کوچنیانو د نه لاس رسي اصلي عامل ګڼل کیږي (پنځم تصویر). په واضحه توګه باید وویل شي چې د ښوونځیو د ودانیو جوړول د افغانستان د بیړنۍ پالیسۍ یو د ډیرو مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي.

د ۲۳ کلونو جګړو په موده کې ۷٥ فیصدوڅخه تر ۸۰ فیصده پورې د ښوونځیو ودانۍ په ټولو کچو کې له منځه تللي او یا ډیرې سختې زیان منې شوې.[29] بیا رغونې ته د یو عمده اړتیا په توګه کتل کیږي (څلورم جدول). په تیرو څو کلونو کې د پوهنې د وزارت لخوا یوازې ۱۰۰،۱ ښوونځي جوړ شوي او یا بیا رغول شوي دي. په تیرو ۲ کلونو کې ۳۰۰ ښوونځي د ملي پیوستون د پروګرام لخوا او ٥۰۰ نور ښوونځي د بهرنیو موسسو لخوا جوړ شوي چې پدې اړه د پوهنې وزارت سره اکثراً ډیره لږه او یا هم هیڅ همغږي موجوده نوه.




سرچینه: ملي خطرات او د حساسیت ارزونه، ۲۰۰۵ کال، د احصائې مرکزي دفتر، د افغانستان اسلامي جمهوریت

د دغو هڅو او هاند سره سره د هیواد د پوهنې د زیربنا د بیا رغونې چارې پدې ندي توانیدلي چې د تقاضا سره همګام اوسي. تخمین شوې چې د تر نیمایې زیات ښوونځي عمده ترمیماتو ته اړتیا لري، پداسې حال کې چې ۲ میلیونه کوچنیان په آزاده فضا کې تر خیمو لاندې زده کړې کوي.[30] د پوهنې د تنظیم معلوماتي سیسټم (EMIS) د معلومات له مخې په ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کلونو کې ۱۰،۱۹۱ ښوونځي موجود وه چې یو ډیر شمیر ئې ودانۍ نلري.[31] همدارنګه یو زیات شمیر غیر راجستر شوي ښوونځي ودانۍ نلري چې په کرائي ودانیو، خیمو، آزاده فضا، جوماتونو او یاهم د ټولنو په ښوونځیو کې چې راجستر شوي ندي، فعالیت کوي. ۵۲ فیصده د څښاک مصئونې اوبه او ۷۵ فیصده کافي حفظ الصحوي آسانتیاوو ته لاس رسي نلري.[32]

| ٤ جدول: د ښوونځیو لګښتونه چې بشپړې بیا ودانولو ته اړتیا لري | | |
|---|---|---|
| د لګښت د شمیرلو پارامترونه | اټکل | ګڼنه |
| د هغو ښوونځیو شمیر چې د | ۷۸۲٤ | EMIS د جولاي دریمه د |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| د ښوونځي پر سر لګښت | ۷۲،۰۰۰ | د Oxfam اټکل د یو |
| په راتلونکي پنځو کلنو ۲۰۰۶ تر | ۵٦۳ | د هغو ښونځیو د لګښتونو څخه |

سرچیني: د بیلابیلو سرچینو څخه

**درسي کتابونه**

درسي کتابونه د رسمي زده کړو یو اساسي برخه جوړوي او پدې توګه د پوهني وزرات، د مرستندویانو په مرسته د ۱څخه تر ۹ ټولګیو پوري په بشپړه توګه د یو نوي تعلیمي نصاب د جوړولو کار پیل کړې دې. خو اندیښني موجودې دي چي د دغو کتابونو د چاپ لپاره به په کافي اندازه مالي وجوه موجوده نوي ( ۵ جدول).[34] په هر حال د پوهني وزیر څرګنده کړې ده چي د نوي طرح شوي تعلیمي نصاب پر بنسټ د زده کړې لمړنی دورې لپاره کتابونه چاپ شوي او د راتلونکي تعلیمي کال د پیل کیدو څخه به مخکي وویشل شي.[35] خو که چیري کتابونه په محلي توګه تولید شي نو د کتابونو په بیو کي به د پام وړ ټیټوالې راشي. د پوهني وزارت د کتابونو د چاپولو د ظرفیت په برخه د پام وړ پانګه اچوني ته اړتیا لیدل کیږي؛ یا خو د پوهني وزارت دي د چاپ خپله مطبعه د کار اخیستلو لپاره چمتو کړي او یا هم دې د هیواد د ننه د کتابونو د چاپ لپاره ارزان بیه سر چیني ولټوي.

| 5 جدول: د درسي کتابونو لګښت چي په راتلونکو پنځو کلونکو کي(۲۰۰۷-۲۰۱۱) ورته اړتیا ده | | |
|---|---|---|
| **د لګښت د شمیرلو پارامترونه** | **اټکل** | **انګیرنه** |
| د درسي کتابونو شمیر چي د ۱- | | د پوهني وزارت له خوا د زده کوونکو د شمیر<br><br>په ۰۸- ۲۰۰۷ کي باید د ۱ څخه تر ۹ ټولګیو<br><br>په منځني توګه د کتابونو شمیر چي هر زده |
| د هر درسي کتاب لګښت | ۱ امریکایي | د کتابونو د چاپولو اوسنی منځني لګښت د |
| په راتلونکو پنځو کلونو کي د | ۲۱۰میلیونه | |

سرچیني: د مختلفو سرچینو څخه

### ۲,۲ د تقاضا له اړخه محدویتونه

*په لمړیو دریو کلنو کي د ښځینه زده کونکو شمیر زیات وو. هر چا غوښتل چي خپل لوڼي ښوونځیو ته واستوي، د ارغنداب په ولسوالی کي [ د افغانستان په سهیل کې یو محافظه کاره سیمه]، نجوني ښونځیو ته د تلو لپاره چمتو وې، او ښځینه ښوونکې هم د ښووني لپاره چمتو وې. خو کله چي دوه یا دریو ښونځیو ته اور واچول شو، د هغې وروسته هیڅ چا ونه غوښتل چي خپلې لوڼې ښوونځیو ته واستوي.*

*ولایتي استاذې،*
*د قند هار ولایت، ۲۰۰۵ کال،د دسامبر ۱۱* [36]

سره لدې، د ۲۰۰۱ کال څخه راهیسې د افغان ولس په بیا د خپلو ماشومانو د ښووني او روزنې لپاره خپله لیوالتیا ځرګنده کړې ده. همدا رنګه د یوې وروستۍ سروې پر بنسټ چي د بشري حقونو د څیړنې او ملاتړ ګروپ( HRRAC) لخوا سرته ورسیده ښکاره کوي چي نږدې ۸۱ فیصده خلکو هیله درلوده چي دولت به پدې وتوانیږي چې د دریو کلونو په ترڅ کې اړوند خدمتونه وړاندې کړي. [37]

خو باید وویل شي چې امنیتي شرایط په زیاتیدونکي توګه په خرابیدو دي او ورسره جوخت ښوونځي پدې وروستیو کې د هغو ګروپونو هدف ګرځي کوم چې غواړي افغانستان بي ثباته کړي. په ځانګړي ډول د افغانستان په سهیل کې، ښونځي و سوځول شو ل، ښوونکي و ګواښیدل او لا یو شمیر خو هم و وژل شول. [38]

کلیوالي سیمې په ځانګړي توګه پوهنې ته د کورنیو د تقاضا د نشتون سره مخامخ دې په ځانګړي توګه د نجونو په برخه کې. په کلیوالي سیمو کې ښونځیو کې د خالص شمولیت منځنۍ کچه ډیره ټیټه ده او دغه کچه ۳٤ فیصدو ته رسیږي او د نجونو او هلکانو تناسب ۱:۲ جوړوي او دا ځرګندوي چې پوهنې ته دتقاضا په برخه کې یوې ستري ټولنیزې ننګوني سره مخامخ یو. [39] په ښاري سیمو کې د دې پر خلاف، رپوټ ورکول کیږي چې د لومړنۍ زده کړې په دوره کې د خالص شمولیت کچه لوړه او ۵۳ فیصدو ته رسیږي او د نجونو او هلکانو تناسب ۱:۱ دې او ښکاره کوي چې په دغو سیمو کې جنسي توپیر لږ دې او کیدای شي چې محدودیتونه یا ستونزې به د عرضې د اړخ په برخه کې لکه د پوهنې د بنسټونو د نشتون او نورو ټولنیزو ستونزو له کبله وي.

د پوهني وزارت منلي ده چې د ۱۰ تر ۱۳ فیصده ماشومان هر کال ښوونځي خوشې کوي. خو د څو ګونو شاخصونو د کلستر سروې ( MICS) په ۷ ولایتونو کې د نجونو له خوا د ښوونځي د خوشې کیدو کچه اوچته وښوده چې پدې ولایتونو کې د ۲۰ فیصده څخه زیات د هغو نجونو څخه چې ئې په ښوونځیو کې داخله اخیستې وه له سره درسونو ته حاضرې نشوې او دا د سروې څخه یواځې ۳ ورځې د مخه پیښه شوه. د پوهنې په سیسټم کې د زده کوونکو لخواه د ښوونځیو خوشې کول په واضحه توګه د سرچینو د ضیاع څخه نماینده ګي کوي – یعني داچه د زده کوونکو لخوا د زده کړو د بهیر په نیمائي کې خوشې کول نه یواځې د ملي با ارزښته سرچینو د ضیاع لامل ګرځي، بلکه د دغو زده کوونکو تشویقول چې د پوهنې سیسټم ته بیرته راستانه شي لا ستونزمن کوي.

### د وروستنیو ګټه اخیستونکو مصارف [40]

*همدا اوس مو د ښوونځي دوه وو نجونو لپاره دوه بکسونه هر یو د ۷۰ افغانیو په ارزښت واخیست. ښوونځي ته واټن لرې دې ( د پخو په مزل سره ۲۰ دقیقې لار ده) او د دوی بوټان ژر زړیږي، نو دا یو بل لګښت دی. ما همدارنګه خپل لور پدې خاطر چې د هغې په مخ د لمر له امله ټاپي پیدا شوي وو کابل ته د ډاکټر د معاینې لپاره بوتله، هغه مونږ ته وویل چې یوه چتري ورته واخلو. نو په عمومي توګه د هغوی د ښوونځي مصارف ډیر زیات دي.*

*د هغې کورنۍ له ویناوو څخه چې خپلې دوه لوڼې او دوه زامن ښوونځي ته استوي:*
*زامن ئې په دوهم او لوڼې ئې په لومړي ټولګي کښې دي.*
*د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالی اوسیدونکي* [41]

*د کورنۍ د اقتصادي ستونزو له امله زما لور ښوونځي ته نه ځي. که زمونږ اقتصادي حالت ښه شي نو زه به هغه هم ښوونځي ته ولیږدوم. زه نه غواړم د خپلو زامنو او لوڼو په منځ کې تبعیض وکړم ...*

*د یو بې وزله بزګر له ویناوو څخه چې دوه زامن ئې په ښوونځي کې شامل کړي*
*او یوه ١٤ کلنه لور لري چې په ښوونځي کې ئې نده شامله کړې.*
*د کابل ولایت د ١٣ مې ناحیې (پل خشک) اوسیدونکې* [42]

پداسي حال کښې چې حکومت په بشپړه توګه د پوهنې د لګښتونو د ورکولو وس نلري په ښوونځیو کې د شمولیت د کچې تاریخي زیاتوالي اکثرا ً کورنی په ټول هیواد کې دې ته اړ باسي چې د وروستنیو ګټه اخیستونکو په توګه مصارف او فیس ورکړي چې پدې توګه د دوی په پوهنې غوښتنې باندې اغیزه کوي او په ځینې حالاتو کې د دې لامل شوې چې زده کوونکي ښوونځي خوشې کړي او یا هم د بې وسی له امله ښوونځیو کې د شمولیت څخه بې برخې پاتې شي.

که څه هم د افغانستان اساسي قانون تر منځنۍ دورې پورې د وړیا زده کړو ژمنه کوي خو بیا هم کورنیو باندې د زده کړو لپاره د ګټه اخیستونکو په توګه یوه زیاته اندازه غیر رسمي فیسونه او مصارف شته چې اکثرا ً د کورنیو لخوا ښوونځیو ته د کوچنیانو د استولو د مخنیوي سبب ګرځي. د اکسفام یوې ابتدایي څیړنې ښودلې چې د دایکندي په ولایت کښې ٨٥ فیصده ښوونځي د ورستنیو ګټه اخیستونکو مصارف پر غاړه اخلي. [43] په یو کال کې د ګټه اخیستونکو منځنې لګښت د هر یو زده کوونکي پر سر ٣٠٠ افغانۍ (٦ امریکائي ډالر) [44] یعنې د سړي سر د عوایدو ٢ فیصده جوړوي. [45] پدغه فیس کې کورنې نور لګښتونه لکه د ښوونځي یونیفورم، کتابونه، د تلو راتلو مصارف، بوټان، قرطاسیه، د غرمې ډوډۍ او داسې نور چې په کورنیو باندې په پراخه توګه بوج زیاتوي شامل ندي. [46]




سرچینه: د ملي خطر او حساسیت ارزونه، د ۲۰۰۵ کال د مرکزي احصائي دفتر، د افغانستان اسلامي جمهوریت

د ملي خطر او حساسیت سروې ښیي چې په منځني توګه په ټول افغانستان کې (٦ تصویر) د زده کړې په برخه کې د کورنیو لګښتونه په هره میاشت کې ۱۸۸ افغانۍ دي چې د کابل او هرات په پرتله لږ تر لږه ۸ برابره زیات دي. د پاملرنې وړ ده چې په یو شمیر ولایتونو کې چې په ښوونځیو کې د شمولیت کچه ټیټه ده لکه بادغیس، هلمند، نیمروز، سرې پل او ارزګان، په زده کړو باندې کورني لګښتونه ډیر کم دي. دغه ولایتونه همدارنګه د شمولیت خورا ټیټه کچه ښیي. [47] کیدای شي انګیرنه وشي چې ۳ فکتورونه په دغو ولایتونو کې په مشترکه توګه موجود دي.

الف) د زده کړو امکانات ډیر کم دي نو لدې کبله د مصرف کولو لپاره فرصتونه هم لږ دي.
ب) دغه سیمې په ځانګړې توګه د افغانستان د نورو سیمو په پرتله په نسبي توګه بې وزلې دي، نو لدې کبله د مصرف کولو وس نشته (دغه حالت ښوونځیو کې د شاملیدو مخنیوی کوي).
ج) شدید کلتوري فکتورونه د هیواد په ځینو برخو کښې په شمولیت باندې اغیزه کوي او لدې کبله د لګښت لپاره اړتیا هم د اثر لاندې راولي.

د بیوزلۍ کچه، د ګټه اخیستونکو غیر رسمي فیس او ښوونځیو ته د کوچنیانو د استولو لګښتونه، ښوونځیو کې د شمولیت په کچې باندې منفي اغیزه کوي. د ګټه اخیستونکو د فیس ورکولو د بیلابیلو ډولونو په منځ کې تر ټولو عام او زیان لرونکې ډول هغه غیر رسمي لګښتونه دي چې اوسیدونکي ئې د ښوونکو د حمایت لپاره برابروي. اکثراً، ښوونځي په ګټه اخیستونکو باندې غیر رسمي فیس وضع کوي پدې خاطر چې وکولای شي خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د حکومت څخه د معاشونو لپاره اټکل شوې پیسې ښوونکو ته و نه رسیږي. تر ټولو بې وزله کورنۍ د دې وس نلري چې خپل کوچنیان ښوونځیو ته واستوي (که څه هم دغه اندازه پیسې ډیرې کمې دي) [48] او دغه راز د ممکنه عوایدو د لاسته راوړلو فرصتونه هم د دې لامل ګرځي. نو لدې امله دغه حالت یوه پیاوړې بیلګه جوړوي چې نه یواځې باید د ګټه اخیستونکو غیر رسمي مصارف له منځه یوړول شي، بلکه د وګړو ونډه دې هم زیاته شي او دوی ته دې تشویقي چارې په لار واچول شي تر څو کوچنیان (حتي د ډیرو بې وزلو کورنیو څخه) د دې وس وموندي چې په ښوونځیو کښې شمولیت تر لاسه کړي.

## په عام ډول د ورځې په نیمایي کې د خوړو برابرول

*زما کورنۍ او ما پخپله د څو شپو لپاره څه ندي خوړلي، ځکه چې د خوراک لپاره هیڅ نوه. زما ځوی نن د ښوونځي څخه راستون شوې وه او ویل ئې چې ډیر زیات وږې دی – ما هیڅ هم نه درلود چې هغه ته ئې ورکړم.*

*د یو مور له وینا څخه چې د خپل ۲ ۱ کلن زوی په اړه چې په څلورم ټولګي کې دی خبرې کوي*
*د نیشیر کلي، د بیلچراغ ولسوالي، د فاریاب ولایت* [49]

۴۸ فیصده کوچنیان (یعني شاوخوا ٦ میلیونه کوچنیان) په افغانستان کې د خوارځواکۍ د ګواښ سره مخامخ دي. [50] اکثریت کلیوالي کورنۍ د خوړو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د ستونزو سره مخ دي. [51] دغه حالت بې له شکه چې د کوچنیانو په روغتیا او په ښوونځیو کې د دوی په کړنو باندې بده اغیزه کوي.

اټکل کیږي چې د خوړو عام پروګرامونه لکه د غرمې د خوړو د برابرولو پروګرام به لکه چې په کال ۲۰۰۱ کې د هندوستان په هیواد کې پیل شو د کوچنیانو تغذیوي، روغتیایي او د زده کړې حالت کې ښه والی راولي [52] او سر بیره پر دې د ښوونځیو د خوشي کولو جګه کچه او د هغې د تکرار څخه د زده کړې د فعالیتونو د احتمالي ښه والي له امله مخنیوی کوي. تمه کیږي چې دغه راز کړنې به لوړه کمه کړي په ښوونځیو کې شاملیدل، حاضري او اجراآتو د تشویق لامل به شي. د زده کړو د کیفیت ښه والي په افغانستان کې په ځانګړي توګه د اهمیت وړ دې ځکه چې د لومړنیو ښوونځیو د بشپړولو درجه خورا ټیټه یعنې ۴۵ فیصده ده – د هغو ټولو زده کوونکو له ډلې چې په لومړي ټولګي کښې شاملیږي، د نیمایي څخه لږ زیات هلکان او په دریو کې یوه برخه نجوني د زده کړې ۵ کلونه بشپړوي. [53]

همدارنګه په ډیرو بې وزله ټولنو کې په ښوونځیو کې د خوړو برابرول د کوچنیانو د راجلبولو او په ټولګیو کې د دوی د ساتلو لپاره د یوې انګیزې په توګه کار کوي. د خوړو نړیوال پروګرام یا WFP د حکومت د " بیرته د ښوونځي په لور" د کمپاین د حمایت لپاره 1.2 میلیونه زده کوونکو ته د خوړو راشن چې کور ته د وړو وړ وه وویشل. په ۲۰۰٦ کال کې دغه پروګرام 1.2 میلیونه زده کوونکي " د زده کړې په وړاندې خواړه " د پروګرام د عنوان لاندې او 0.6 میلیونه زده کوونکي ئې د " کور ته د وړو وړ راشنونو" په واسطه د پوښښ لاندې راوستل. دغه پروګرام په هغو سیمو کښې چې د خوړو کمښت موجود وي او د زده کړې ضعیف شاخصونه ولري پلې کیږي. د خوړو نړیوال پروګرام په پام کې لري تر څو ۴۵۰،۰۰۰ د هغو سیمو کوچنیانو ته چې لاس رسي ورته ستونزمنه ده د غنمو د راشن مرسته وکړي. سربیره پردې دوی پلان لري چې د ۴۰۰،۰۰۰ نجونو سره د کال په ترڅ کې د تشویق په توګه په ښوونځي کې د دوی د پاتې کیدو په موخه د اضافي غوړیو مرسته وکړي. [54] خو حتی د دغو ټاکلو پروګرامونو پایښت هم د سوال لاندې دی. [55] دغه پروګرامونه همدارنګه په ښکاره توګه د هیواد په کچه دوامداره خوارځواکۍ د له منځه وړلو په لار کې خلاء رامنځ ته کوي.

د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې شاوخوا د نفوس نیمائي برخه کوچنیان د خوارځواکۍ څخه رنځ وړي، د ټاکلو پروګرامونو له لارې د کوچنیانو انتخابول یو کم مصرفه میکانیزم نه جوړوي. د دې حقیقت تشخیصول چې څوک بې وزلې دي او کوم اوسیدونکي تر ټولو زیات زیان منونکي دي اکثراً ستونزمن کار دی او د اطلاعاتو ریښتیا توب د سوال وړ دی. په ښوونځیو کې د عمومي خوړو برابرول د څو ګونو بهرنیو سرچینو له خوا به د افغانستان د کوچنیانو د زده کړې په بیا رغونه کې هم د اوس او هم د راتلونکي لپاره مهم رول ولوبوي. د اکسفام محاسبې ښودلې چې د غرمې له خوا د یو ساده او مغذي خوړو لکه د شیدو او د دوه مقوي بسکیټونو برابرول په عمومي توګه په افغانستان کې د ټولو ښوونځیو د کوچنیانو لپاره به په یو کال کې د هر یو زده کوونکي پر سر یوازې ۳۲ امریکائي ډالره تمام شي، یعنې دا چې په 2007–8 کې به ۱۹۲ میلیونه ډالره شي. [56] د ورځې په نیمایي کې د خوړو برابرول به په قوي احتمال سره د زده کوونکو د صحت او روغتیا په ښه والي او همدارنګه د افغانستان د راتلونکي نسلونو لپاره د زده کړې د کیفیت د ښه والي په برخه کښې ستر رول ولوبوي.

### ۳: د پوهنې په لګښتونو کې نا اغیزمنتیا

څرنګه چې په پورته کښې تري یادوونه وشوه، د پوهنې په سیستم کښې نا اغیزمنتیا د زده کوونکو شمولیت (په ځانګړي توګه د نجونو شمولیت) او د زده کړې کیفیت تر اغیزې لاندې راولي. د دغو څخه ځینې خنډونه کولای شو د پوهنې د سیستم د مالي وجوه په برابرولو کې د موجوده نا اغیزمنتیا په اصلاح کولو سره له منځه یوسو، پدې کښې دوه اساسي ساحې موجودې دي. لومړۍ ساحه د پوهنې د بودجې د ترتیبولو او پلي کولو بهیر جوړوي. دوهمه ساحه د پوهنې د سیستم د جوړښت د ځانګړنې سره تړاو لري.

#### ۱. ۳ د بهیر نا اغیزمنتیا

**عادي او پرمختیایي بودجه**

په پیل کې به مهمه دا وي چې د پوهنې د بودجې د ترتیبولو او پلي کولو بهیر ته کتنه وشي.[57]

د افغانستان ملي بودجه د عادي بودجې او پرمختیایي بودجې څخه جوړه شوې ده (۷ تصویر ته کتنه وکړئ). په عادي بودجه کې تر زیاته کچه معاشونه او نور اداري لګښتونه شامل دي. په اوس مهال کې هم د افغانستان دولت (۴۵ فیصده) او هم مرستندویان د افغانستان د بیا ودانولو د وجهي صندوق ( ARTF ) له لارې (۵۵ فیصده) عادي بودجه تمویلوي.[58]

**۷ تصویر: د پوهنې د ملي بودجې برخې**




خو له بلې خوا پرمختیایي بودجه هغه لګښتونه تر پوښښ لاندې راولي چې د ودانولو، بیارغونې، زیربنا، د وړتیاوو لوړول او د ادارو د پیاوړي کولو د پروګرامونو سره تړاو لري. د لازیات روښانه کولو لپاره دې وویل شي چې پرمختیایي بودجه د ټولې ملي بودجې ۸۳ فیصده جوړوي. پرمختیایي بودجه په پوره توګه د مرستندویانو او نړیوال بانک، د متحده ایالاتو د پرمختیایي نړیوالي اداري ( USAID) او د بریتانیا د پرمختیایي نړیوالي اداري (DFID) د پراخو مرستو له لارې تمویلیږي. **پرمختیایي بودجه د دوه وو برخو څخه جوړه شوې ده.** د اساسي پرمختیایي بودجې برخه د مرستندویانو د مالي مرستو او یا پورونو له لارې برابریږي او په پوره توګه د پوهنې د وزارت له خوا پلي کیږي. **اساسي پرمختیایي بودجه** هم د مرستندویانو له خوا د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق (ARTF) له لارې چې عادي بودجې سره هم مرسته کوي تمویلیږي.[59]

**بهرنۍ پرمختیایي بودجه** ۱۰۰ فیصده د بیلابیلو مرستندویانو او هیوادونو له خوا د افغانستان د حکومت د هیڅ راز او یا هم په ډیرې لږې همغږۍ سره تمویل او پلي کیږي. دغه برخه یواځې د افغانستان د مالي منجمنت په سیستم کې ثبتیږي.

## د بودجې ترتيبول

د پوهنې د بودجې ترتيبول خورا اوږد بهير ته اړتيا لري (۸ تصوير). د ماليې وزارت د هر يو لانديني فعاليت لپاره د زماني موديٖ په مشخص کولو سره لارښودونه استوي لکه د بودجې د ترتيبولو، د ځينو فورمو او فارمټونو ډکولو، د بودجې د اوريدلو، او د کابينې او پارلمان لخوا د بودجې د تصويبولو لپاره.




سرچينه: د پوهنې او د ماليې وزارتونو د معلوماتو له مخې

هر وزارت بايد دغه فورمې په اړونده معلوماتو سره ډکې کړي او هغه بيرته د ماليې وزارت ته وسپاري. هر وزارت خپل اړوند ولايتي اداري ته يادداشت استوي. ولايتي اداري بايد د د اړند ولايت د ښوونځيو د ودانولو، نوو مقرري ګانو، زيربنا، روغتيا، او امنيت له پلوه خپل لومړيتوبونه په ګوته کړي. يو بل يادداشت د وزارت په دننه کې ادارو ته استول کيږي تر څو د راتلونکي کال لپاره خپلې اړتياوې په ګوته کړي. د وزارتونو د پلان ډيپارټمنټ ټول معلومات راټولوي او د بودجې د پيشنهاد يوه مسوده جوړوي. کله چې اړوند وزارتونو سره د اساسي بودجې اوريدل سرته ورسيږي، د ماليې وزارت بيا د مرستندويانو او نړيوالي ټولنې سره په ډله ئيزه او يا په فردي توګه خبرې اترې کوي تر څو د هر سکټور لپاره مالي وجوه او پورونه برابر کړي. مرستندويان د پانګې اچونې لپاره د سکټور په تاکلو کې خپلواکه دي.[60]

د پوهنې وزارت اداري ډيپارټمنټ د عادي بودجې په اړه د مناسبو معلوماتو را ټوله ولو مسئوليت پرغاړه لري (۹ تصوير). د مفتشينو يو ټيم د ولايتي رياستونو څخه ليدنه کوي او د ښوونکو د شمير، اداري کارکوونکو او نور قراردادي کارکوونکو په اړه ولايتي معلومات راټولوي. د ولايتي ډيپارټمنټونو څخه د راټولو شوو معلوماتو پر بنسټ چې اداري ډيپارټمنټ ته سپارل شوي، عادي بودجه ترتيب او پيشنهاديږي.

**۹ تصوير د عادي بودجې په اړه د سلا مشورې بهير**




سرچينه: د پوهنې او د ماليې وزارتونو د معلوماتو له مخې

## ناکافي سلامشوري

د ولايت او ولسوالی په کچه د سلا مشورې ميکانيزم خورا ضعيفه دي. همدارنګه لدې کبله چې د خلکو، ښوونکو، او د ښوونکو - کورنيو د مشرانو د ټولنو سره په نادره توګه سلا مشوره کيږي، د سلا مشورې ميکانيزم ژور ندې. اکثريت پاليسي ګانې او د بودجې تصميمونه د مرکز په کچه، د پاليسي ګانو د اساسي پلې کوونکو يعنې د ولايتونو او ولسواليو د ادارو او د ښوونځيو د ډيرې لږې او يا هم د دوی د سلا مشورو پرته، نيول کيږي.

سر بيره پر دې، د پوهنې وزارت د دې توان نلري چې په کافي اندازه د نوي ښوونکو مقررول پلان کړي دا ځکه چې اکثره مراجع وزارت سره د همغږۍ پرته د ښوونځيو د جوړولو او بيا رغونې کارونه تر سره کوي. د پوهنې وزارت وروسته بيا د ښوونکو له پلوه د دغو ښوونځيو په سمبالولو کې د ستونزو سره مخامخ کيږي ځکه چې دغه وزارت بايد د بودجې د زياتوالي او په تشکيل يا د کارکوونکو د شمير د زياتوالي له کبله د ماليې د وزارت موافقه تر لاسه کړي.[61]

د مرکز او ولاياتو د پوهنې د چارواکو تر منځ اړيکې اکثرا محدودې دي حتی د قرطاسيې اکمال د بيوروکراسۍ د کنټرول له امله د ځنډ سره مخامخ کيږي. د دې پر ځای د صفر څخه يعنې د سره څخه د بودجې د تر تيبولو د

### خنډ او کسر

تر ټولو عمده ستونزه د ولايت او په ټيټه کچه ښوونځيو ته د معاشونو او کوچنيو پيرودونو لپاره د پيسو ورکول دي. دغه طرزالعمل خورا پيچلي دي (۱۰ تصوير) ځرنګه چي پانې د ډيپارټمنټ ځخه د ولايت والي ته او بيا بيرته ډيپارټمنټ ته راځي او وروسته بيا *مستوفيت* ته ليږدول کيږي. [62] په مستوفيت کي تصميم نيونه په غير معمول توګه د ځنډ سره مخامخ کيږي. د مستوفيت يو کارکوونکي د مرکي په ترڅ کي وايي، " که ماشوم و نه ژاړي نو مور شيدې نه ورکوي " [63] . ويل کيږي چي د پيسو د راويستلو لپاره په مستوفيت او د ښوونځي د خزانه دار تر منځ په پراخه توګه فساد موجود دی. [64] ښوونکو ته نه يواځي دا چي تنخواوې په خپل وخت نه رسيږي بلکه دوی د تنخوا ټول مقدار چي دوی يې مستحق دي لاس ته نه راوړي. [65] په وزارت کښې د بودجې د پلانونو د طرحې او اجرا کولو د وړتيا نشتوالي د جدي فشارونو له جملې ځخه ګڼل کيږي.

۱۰ تصوير: لاندينې چارټ د پوهنې په وزارت کښې د پرمختيايي بودجې بهير ښکاره کوي.




سرچينه: د پوهنې او د ماليې وزارتونو د معلوماتو له مخې

د عادي بودجې په اړه مرکزي وزارت د نظارت مسئوليت لري پداسې حال کې چې ولايتي ډيپارټمنټونه يواځې د ګزارش ورکولو مسئوليت پر غاړه لري. مرکزي او ولايتي وزارتونه ناکافي لوژستيکي خدمات او بشري ځواک

**د حکومت څخه بهر د بودجي جريان**

په ځلورو کي دريمه برخه پيسي چي د نړيوالو مرستندويانو له خوا د پوهني پروژو ته لار پيدا کوي د حکومت څخه بهر جريان مومي؛ اما بايد وويل شي چي د بودجي د جوړښت له کبله حکومت د مرستندويانو څخه عمده برخه پيسي د کاغذ پر مخ ترلاسه کوي. مرستندويان اکثراً د شرکتونو، اردو او يا هم نادولتي موسسو سره قرار داد کوي. د نړيوال بانک د تخمين له مخي که چيري د صحي خدمتونو اساسي مجموعي (BPHS) په اړه د حکومت د سيستم څخه بهر قرار داد شوي واي نو کيداي شو چي ۵۰ برابره ګران تمام شوي واي.[66] حتی د پوهني سکټور په دننه کي بهرنی قراردادي پروژي د بيلګي په توګه هغه پروژه چي لويس برجر ګروپ ته د ۲۳ ښوونځيو د ودانولو لپاره ورسپارل شوي په منځني توګه د هر ټولګي پر سر ۸۱۳,۲۲ امريکائي ډالره لګښت راځي چي د حکومت د منځني لګښت په پرتله ۲ برابره لوړه ده.[67]

د ولايتي بيا رغوني د ټيم د مرستو څخه پداسي حال کي چي د ملي اړتياوو په پرتله ډيري ناچيزي بريښي، د ښوونځيو د ودانولو په برخه کي لګښتونه د نورو مرستندويه ادارو په پرتله خورا اوچتي دي. د پوهني وزارت سره د تفاهم نامي د امضا کولو په اړه د ليوالتيا نشتون په بي ساري توګه د نا اغيزمنتيا لامل ګرځيدلي دي. په ولايتونو او ولسواليو کي د حکومت اړوند مراجعو سره په مستقيمه توګه همغږي د دي لامل ګرځيدلي چي د ښوونځيو د ودانولو چاري پرته لدي چي ښوونکي ورته استخدام شي او يا هم په وزارت کي د دوئ موقعيتونه ثبت شي، تر سره کيږي.[68] مرستندويه اداري[69] دغه راز د بشردوستانه او نظامي پروژو د يو ځای کولو څخه خورا نا راضه بريښي په ځانګړي توګه د افغانستان په اوسنيو حالاتو کي څکه دغه حالت د مرستندويه کارکوونکو هلي ځلي چي د وګړو د اړتياوو سره سم ترسره کيږي، نه د پوځي او سياسي موخو لپاره د خطر سره مخامخ کوي. همدارنګه دغه حالت وګړي د پوځي غوښتنو يرغمل کوي او د مرستندويه کارکوونکو او د استخباراتي معلوماتو د ټولو جګړه مارانو تر منځ توپير ستونزمن کوي.[70]

**۲. ۳ د تشکيلاتي جوړښت نا اغيزمنتيا**

د پوهني په سيستم کي د تشکيلاتي جوړښت نا اغيزمنتيا د پوهني د بهير د نا اغيزمنتيا د زياتوالي او پدغه سيستم کي د ستري ضياع لامل ګرځيدلي دي. د دغو ضايع شويو سرچينو څخه کيداي شو په اغيزمنه توګه ګټه اخيستل شوي واي.

**نه کارول شوي مالي وجوه**

د پوهني وزارت په منظمه توګه د تخصيص شوو پيسو د مصرف توان نلري. د تخمين له مخي د افغانستان دولت د پرمختيايي بودجي په سلو کي يواځي ۵۰ فيصده او د پوهني په برخه کي د دي څخه لږه اندازه پيسي مصرفوي.[71] د پيسو څخه ښي ګټه اخيستني به د ښوونځيو بيا ودانول او بيا رغول ډاډمن کړي واي خو اداري خنډونه او د ملي پلان جوړولو د چوکاټ نشتون د دي لامل ګرځيدلي چي د دغو پيسو زياته برخه په لږه اندازه او يا هم هيڅ ونه کارول شي.[72]

**د معاشونو پرته عادي لګښتونه**

د ۲۰۰۵ – ۲۰۰٦ کلونو د عادي بودجي څخه ٦,۱۱۷ ميليونه ډالره د پوهني وزارت په تنخواوو لګول شوي وي (شاووخوا ۹۰ فيصده)، او پاتي برخه ئي تقريباً ټولي په اداري او خدماتي لګښتونو کي په مصرف رسيدلي وي. د حکومت د ۲۰۰۵ – ۲۰۰٦ (۱۳۸٤) کال د عادي بودجي يواځي ۳ ميليونه ډالر (۱۵۰ ميليونه افغانۍ)[73] يعني ۳ فيصده ئي د دارائي د اخيستو لپاره تخصيص شوي وي (يعني د معاشو پرته د عادي لګښتونو لپاره). په حقيقت کي د دارائي د اخيستو لپاره په اوس مهال کي په اساسي عادي بودجه کي يواځي کتابونه شامل دي، پداسي

### د مالي وجوه نا اډوله ویش

یوه اساسي ساحه چې ریفورم ته اړتیا لري په ولایتونو کې د پوهنې لپاره د پیسو برابرول دي. په افغانستان کې د مالي وجوه ویش نا اډوله دی. روښانه ده چې د هغو پیسو په مقدار کې چې ولایتونو ته د تنخواوو لپاره ورکول کیږي په پراخه توګه توپیرونه شته دي.

| شپږم جدول: د ولایتونو په کچه د پوهنې لپاره د مالي وجوه نا انډوله ویش | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | د هر ښوونځي پر | د هر ښوونکي پر سر | | د هر کوچني پر | معاش د |
| | | کلني | میاشتني | | |
| بدخشان | 810,840 | 41,205 | 3,434 | 1,543 | 73 |
| کندهار | 504,205 | 57,769 | 4,814 | 1,003 | 52 |
| دایکندي | 141,322 | 29,867 | 2,489 | 688 | 76 |

سرچینه: بیلابیلې سر چینې

شپږم جدول ښکاره کوي چې په بدخشان کې د هر ښوونځي او د هر کوچني پر سر مصارف په نسبي ډول اوچت دي او څرنګه چې په دریم جدول کې ښودل شوې ده د هر ۲۷ زده کوونکو پر سر یو ښوونکې دې. مرستندویان، نا دولتي موسسې او نړیواله ټولنه هم د دغه ولایت د پوهنې په زیربنا کې په پراخه توګه پانګه اچوي. د بدخشان ولایت د نورو ولایتونو څخه لکه کندهار او دایکندي چې د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا په نسبي توګه له پامه اچول شوي، په ښکاره توپیر کې قرار لري. د اکسفام یوه ابتدائي سروې ښیي چې د دایکندي په ولایت کې زیات شمیر ښوونکي په میاشت کې د ۳۸ ډالرو (۱،۹۰۰ افغانیو) څخه لږه تنخواه تر لاسه کوي – دغه مقدار د ملي منځني مقدار څخه چې ۵۰ ډالره (۲،۵۰۰ افغانۍ) دي ډیرې کمې دي. [74] باید وویل شي چې دغه ولایتونه د امنیت د نشتون او لرې والي له امله د نړیوالې ټولنې له خوا د لږې پاملرنې څخه برخمنې دي.

### ٤. پیشنهادونه

په تفصیل سره د افغانستان د پوهنې د مالي وجوه د برابرولو د بهیر او د ورسره فشارونو د څېړنو پر بنسټ، څو ګوني اړونده مراجعو څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې د پالیسي لاندیني اقدامات دې د پوهنې د بهیر د ریفورم لپاره تر لاس لاندې ونیسي تر څو په ښوونځیو کې د عام شمولیت خوب ریښتیني شي.

### ١. ٤ د افغانستان حکومت د حکومت لپاره

په زیربنا کې پانګه اچونه

- ٥٢،٧٢٢ تنه ابتدایي ښوونکي دې په نږدې راتلونکي کې تر روزنې لاندې ونیول شي. بر سیره پر دې ٦٣،٦١٦ تنه ابتدایي ښوونکي باید وروزل شي او استخدام شي ترڅو په راتلونکو ٥ کلونو کې د وړاندوینو پر بنسټ د شمولیت په کچه کې د زیاتوالي له کبله رامنځ ته شوې اړتیاوې پوره کړي. دغه راز د جنسیت (جندر) په اړه نوښتونه دې تر لاس لاندې ونیول شي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د هغه شمیر کسانو څخه چې استخدام او یا تر روزنې لاندې نیول کیږي لږ تر لږه ٥٠ فیصده ئې ښځینه وي.

- په پوهنې کې په رسمي او نیمه رسمي توګه د وروستنیو ګټه اخیستونکو مصارف دې له منځه بوتلل شي. په پوهنې کې د کورنۍ پانګه اچونې سر بیره دې نور مصارف لکه د ښوونځیو د یونیفورم، کتابونو، د ترانسپورت د مصارفو، بوټانو، قرطاسیه، او د ورځې په نیمایي کې د خوړو د برابرولو لپاره دې په عامه توګه د امکان تر حده پورې پیسې برابرې شي.

- د ورځې په نیمایي کې دې ساده او مغذي خواړه لکه شیده او دوه مقوي بسکیټونه په عام دول په ټول افغانستان کې د ټولو ښوونځیو د کوچنیانو لپاره برابر کړای شي چې په یو کال کې به د هر یو زده کوونکي پر سر یوازې ٣٢ امریکائي ډالره تمام شي (یعنې دا چې په 2007–8 کال کې به ١٩٢ میلیونه ډالره شي).

**اداري ریفورم**

- د صفر څخه یعني له سره څخه د بودجي د تر تیبولو د بهیر د شروع کولو په لور خوځښت به د سلا مشورې د یو پراخه بهیر غوښتنه وکړي تر څو پدې توګه د پوهنې د مالي وجوه د برابرولو لپاره د بودجې هرې برخې ته پاملرنه وشي. دولت باید ښوونځیو د هر زده کوونکي، ښوونکي او ښوونځي په پام کې نیولو سره د کلنۍ بودجې تخصیص ورکړي.
- د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د پلانولو بهیر دې د " اړتیاوو او پایلو پر بنسټ " په میتود شروع کړای شي. د ولسوالیو پلانونه کیدای شي د ولایتونو په پلانونو او د ولایتونو دې د ملي کچې پلانونو کې وځایول شي. دغه کړنه به پوهنې وزارت پر دې قادر کړي چې خپل کارونه لومړیتوب بندي کړي او د تصویب د بهیر په څنډ کې کموالي راولي.
- د څو کلن پلان چوکاټ دې تر لاس لاندې ونیول شي تر څو په یوه ساحه کې څنډ او د مالي وجوه لږ مصرفول په نورو نورو ساحو کې په مالي وجوه باندې ناوړه اغیزه وانچوي. او ناڅاپي څنډونه د یو پلان د له منځه وړلو لامل و نه ګرځي.
- په ملي کچه دې په یو میکانیزم باندې کار وشي تر څو په موجوده سرچینو، وړتیاوو او فعالیتونو باندې نظارت وکړي. په ملي او ولایتي کچه دې د ښوونکو یو دیتابیس رامنځته شي او د ښوونکو څخه دې نظارت وشي.

**د تشکیلاتي جوړښت ریفورم**

- د عادي بودجې لږ تر لږه ۲۰ څخه تر ٤۰ فیصده دې د معاشونو پرته عادي لګښتونو ته بیلې شي.
- مالي وجوه دې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه په انډولیزه توګه د زده کړې د پراخوالي او د اړتیاوو د ماهیت پر بنسټ وویشي تر څو په ټول هیواد کې د برابرو لاسته راوړنو او فرصتونو څخه ډاډ تر لاسه شي.
- د پوهنې په وزارت کې دې د بیلابیلو ډیپارټمنټونو په ګډون داسي یوه کمیټه جوړه شي چې په ځانګړي توګه د بودجې په اړه د مذاکرې په بهیر باندې کار وکړي او د مالیې وزارت او بهرنیو مرستندویانو سره همغږې رامنځته کړي.
- د ولایت په کچه دې یو بانکي حساب جوړ او وروسته د بودجې د تخصیص او تصویب څخه دې پیسې ورته ولیږدوي. دغه کړنه به د ضایعاتو د کموالي او د اغیزمنتیا د ښه والي لامل وګرځي.

### ۲. ٤ مرستندویانو او نړیوالې ټولنې ته

- په اساسي پرمختیایي بودجه کې دې ٥٦۳ میلیونه ډالره پانګه اچونه وکړي تر څو د ۷۸۲٤ ښوونځیو ودانۍ په راتلونکو ٥ کلونو کې جوړې شي.
- دولت سره دې د ۲۱۰ میلیونه ډالره پانګه اچونه کې مرسته وکړي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې ۱۸۰ میلیونه درسي کتابونه چاپ او په راتلونکو ٥ کلونو کې د لومړي څخه تر ۱۲ ټولګي پورې ټولو زده کوونکو ته وویشل شي.
- د عادي لګښتونو په برخه کې دې لږ تر لږه د راتلونکو ٥ کلونو لپاره تر هغو چې د افغانستان دولت د ډیرو عوایدو په ترلاسه کولو وتوانیږي مرسته وکړي.
- د اړونده مراجعو د مالي وجوه او د خدمتونو د برابرولو ټول پلانونه (مستقیم او غیر مستقیم) دې شریک کړای شي تر څو د پوهنې د ملي چوکاټ په دننه کې د کاري مشابهتونو څخه مخنیوی وشي.

### ۳. ٤ پوځ ته

- د پوهنې د وزارت سره دې په مرکزي کچه یو پروتوکول امضا کړي او د بیا رغونې فعالیتونه دې د وزارت د اړتیاوو د یوې مشترکې څیړنې پر بنسټ پلې کړي.

### ٤. ٤ نا دولتي موسسو ته

- په اوږد مهال کې دې د حکومت سره د وړتیاوو په لوړوالي او د دوامداره زده کړو په برابرولو کې مرسته وکړي.
- ډاډ دې تر لاسه کړي چې فعالیتونه ئې د ملي زده کړې د خدمتونو په وړاندې کولو کې چې د افغانستان د دولت لخوا برابریږي مرسته کوي.
- ډاډ دې تر لاسه کړي چې فعالیتونه ئې د ملي پوهنې د چوکاټ په دننه کې دي.

یادداښتونه:

---

1(2002)   Gannon "نجوني بیرته ښوونځیو ته ستنیږي" ، د مارچ ۲۲ مه' The Daily Camera, Associated Press,

2 په افغانستان کې په ښوونځیو کې د شمولیت د کچې لوړوالي یوه بې ساري ننګونه جوړوي. د شمولیت ټول اطلاعات د اغلی حمیده کربلایي د پوهنې وزارت د لومړنیو زده کړو د ډیپارټمنټ د مدیرې څخه اخیستل شوي. د فردي ارتباط له لارې، د ۲۰۰٦ کال د اپریل ٤ مه نیټه.

3 د شمولیت په اړه اطلاعات د پوهنې د منجمنت معلوماتي سیستم (EMIS) ۱۳۸٤، د پوهنې د وزارت او د نفوس په اړه اطلاعات د احصائیې مرکزي دفتر څخه ۱۳۸٤، دغه دواړه اطلاعات د ۲۰۰٦ کال د جولای په میاشت کې تر لاسه شول.

4 . Chaudry, A . د پوهنې وزارت سلا کار ( د ۲۰۰٦ د اګسټ میاشت) د لیکوونکي سره په مکاتبه کې، د نوي درسي نصاب معرفي کول، Pakistan Tribune، د اګسټ ۲۸ مه، ۲۰۰٦ کال. یونسف په فعاله توګه د درسي نصاب په انکشاف کې ښکیل دی ( هم د درسي نصاب د چوکاټ چې په 2002/3 کې جوړ شوی او هم د درسي کتابونو په انکشاف کې). دوی د اساسي مضامینو د درسي کتابونو د انکشاف چارې د لومړي څخه تر ٥ ټولګي پورې بشپړې کړې. د ٦ څخه تر ۷ ټولګي پورې به د لومړي څخه تر ٥ ټولګیو د ځینو کوچنیو مضامینو په ګډون په ۲۰۰٦ کال کې بشپړ کړای شي. افغانستان د لومړنیو زده کړو تعریف تر نهم ټولګي پورې غزولی دی او یونسف موافقه کړې چې د درسي نصاب د جوړلو چارې به تر ۹ ټولګي پورې بشپړې کړي. د ۱۰ څخه تر ۱۲ مو ټولګیو د نصاب جوړولو چارې به د یونیسکو پواسطه بشپړې شي.

5 5 EMIS 1384 د پوهنې وزارت، د ۲۰۰٦ کال په سپتمبر کې تر لاسه شوی.

6 **Spink, J.** (2006) 'Education, Reconstruction and Forced Migration in Afghanistan,' *Forced Migration Review*, FMR Education Supplement, July, p.15.

7 د ۲۰۰٦ کال د جولای د میاشتې په یوې مشورتي غونډه کې د USAID او یونیسف د معلوماتو څخه

8 دغه رقم هغه مالي وجوه چې د کورنیو له خوا د ورستنیو مصرف کوونکو په توګه ورکول کیږي نه څرګندوي.

9 د اکسفام د محاسبې پر بنسټ د اي ام اف د اطلاعاتو څخه

(http://www.imf.org/external/pubs/ft/scr/2006/cr06251.pdfon) and Ministry of Finance projections available at (http://www.mof.gov.af/eng/index.asp).

10 Wajdi, W. د نړیوال بانک د پوهنې متخصص (اپریل ۲۰۰٦) چې د لیکوونکي سره ئې کتنه کړې.

11 Pare, B.، په کابل کې فرانسوي کنډک، اپریل ۲۰۰٦، چې د لیکوونکي سره ئې کتنه شوې. د پوهنې په برخه کې د فرانسوي کنډک لګښتونه (۲۰۰۲ – ۲۰۰٦) په ټولیزه توګه ٥٦۳،٦۹۷ (٦۷،۰۰۰ ایرو) شوي دي.

12 CERP پروګرام په عراق او افغانستان کې قوماندانانو ته مالي وجوه برابروي تر څو دوی يې د خپل مسئولیت په ساحه کې په کوچنیو بشري او بیا رغونو پروژو کې ولګوي.

13 محمد هاشم شهیدي د افغانستان لپاره د سویدن د کمیټې د پوهنې مدیر (اپریل ۲۰۰٦) او وږمه باتور د پاملرنې د نړیوالې اداري د پوهنې مدیره (اپریل ۲۰۰٦) چې د لیکوونکي سره ئې کتنه شوې.

14 Gannon (2002) “نجونې بيرته ښوونځيو ته ستنيږي" ، د مارچ ۲۲ مه’ The Daily Camera, Associated Press,

15 د اکسفام د جي بي ځيرنه د مرکزي احصائيې د دفتر د معلوماتو پر بنسټ. حتی د پوهنې وزارت د يو لږ محافظه کارانه تخمين سره منلې چې په ۲۰۰۵ کال کې د هغو کوچنيانو چې عمر يې د ٦ څخه تر ۱۸ پورې وو د ابتدائيه ښوونځيو د نجونو په ګډون ٤۰ فيصده کوچنيان د ښوونځيو ته د تګ څخه برخمنې نوې.

16 **Spink, J.** (2006) ‘Education, Reconstruction and Forced Migration in Afghanistan,’ *Forced Migration Review*, FMR Education Supplement, July, p.15.

17 *Ibid*

18 Evans et. al. (2004) p.118 د نک پاند په رپوټ کې وويل چې ” پيسې چيرې ځي؟ په افغانستان کې نادولتي موسسو ته د مرستو د بهير مطالعه “ چاپ شوې ندې، د ۲۰۰٦ کال.

19 **Spink, J.** (2006) ‘Education, Reconstruction and Forced Migration in Afghanistan,’ *Forced Migration Review*, FMR Education Supplement, July, p.15.

20 محاسبه د شموليت د اطلاعاتو پر بنسټ چې د يونيسکو افا جې ار ام ۲۰۰٦ کال څخه په لاس کې دي او همدارنګه د لاندنيو انګيرنو له مخې ( i ) د سهيلي آسيا د روزل شوو ښوونکو سيمه ييزه منځنی فيصدي د نماينده په توګه افغانستان کې د د ښوونکو د داخل خدمت او مخکې د خدمت د روزنې د دقيقې فيصدۍ په اړه د اطلاعاتو د نشتون له کبله کارول شوې. ( ii ) د زده کوونکو او ښوونکو تناسب ۱:٤۰ انګيرل شوې چې په نړيوالې کچه او د نړيوال بانک او د پوهنې د نړيوالې اداري له خوا منل شوې معيار دې. د روزل شوو ښوونکو د دغه محدود تعريف له کبله د روزل ناشوو ښوونکو ټول بستونه چې په اوس مهال کې د پوهنې په سيسټم کې کار کوي د کمبوداتو په ډله کې تخمين شوي دي.

21 Faiz, A، د پوهنې عمومي رئيس، د پوهنې وزارت د ۲۰۰٦ د مارچ مياشت، د پوهنې په وزارت کې د ليکونکې سره په يوه غونډه کې؛ اطلاعات تخمينوي چې اټکل کيږي د ۱۲ ټولګيو پورې به د زده کوونکو په شموليت کې به د 2007-8 تر 2011-12 په موده کې ۹. ۱ ميليونه زياتوالې راشي. سربيره پر دې انګيرل کيږي چې ۱٤۳،۰۰۰ ښوونکي په اوس مهال کې د پوهنې په سيسټم کې په کار بوخت دي.

22 EMIS 1384, د پوهنې وزارت، د ۲۰۰٦ کال په سپټمبر کې تر لاسه شوي. **کربلايي .م** د پلان رئيس، و پوهنې وزارت د ۲۰۰٦ کال در اپريل مياشت چې د ليکونکې سره ئې ليده شوي

23 **کربلايي .م** د پلان رئيس، و پوهنې وزارت د ۲۰۰٦ کال در اپريل مياشت چې د ليکونکې سره ئې ليده شوي

24 *Ibid.*

25 *د پوهنې وزارت، د ښوونکو د روزنې مديريت د جولای ۲۰۰٦*

26 **Spink, J.** (2006), *op.cit.*

27 Oxfam primary survey 2006, *op.cit.*

28 *فيض اې، د پوهنې عمومي رئيس د پوهنې وزارت د ۲۰۰٦ کال د مارچ ۱۱ مې د مصاحبې څخه*

29 *ښاغلې قاسمي جي تي زيت او د پوهنې وزارت د پلان مديريت د اپريل ۲۰۰٦ مه چې د ليکونکې سره ئې ليدنه شوې.*

[30] *دغه ارقام د ۲۰۰۳ کال لپاره دي.* . A. Strand and Olesen (Eds.) (2005) Afghanistan: Findings on Education, Environment, Gender, Health, Livelihood and Water and Sanitation From Multidonor Evaluation of Emergency and Reconstruction Assistance from Denmark, Ireland, the Netherlands, Sweden and the United Kingdom, CMI Report, Chr. Michelsen Institute, R 2005: 15.

[31] *د پوهنې د منجمنت معلوماتي سیستم: ساختمان مکاتب، د ښوونځیو زیربنا، د اګست په ۲۰۰٦ تر لاسه شوې.*

[32] Bruns, Minger, and Rakotomalala (2003) *Achieving Universal Primary Education by 2015: A Chance for Every Child*, Washington DC: World Bank.

[33] : د اجباري پوهنې په اړه پرمختګ – د ۱-۹ پورې، د بشر د حقوقو څیړنې او ادوکسي **HRRAC** (2004) Report Card
*کانسارتیوم د ۲۰۰٤ کال د مارچ میاشت ښکاره کوي چې د یو ابتدائیه د کانکریت څخه جوړ ښوونځي لپاره چې ۸ – ۱۰ خونې ولري یو د حکومت یو معیاري دیزاین شته چې دهر ښوونځي پر سر ۱۰۰،۰۰۰ امریکائي ډالر لګښت راځي. اکسفام د ۱۲ خونیو لرونکې یو* ښوونځې د ٦۰،۰۰۰ امریکائي ډالرو په لګښت (په دایکندي کې) جوړوي. دغه ښکاره کوي چې د لګښتونو تخمین د ولایاتو په کچه توپیر لري. لدې کبله اکسفام تخمین کوي چې په منځني توګه ۷۲،۰۰۰ ډالر به د یو ښوونځي د جوړولو لګښت وي چې ۸ خونې ولري. دغه رقم همدارنګه د هغه تخمین سره چې په TISA ، د افغانستان د راتلونکي پوهنې ساتنه، تخنیکي ضمیمه، د ۲۰۰٤ کال د جنوري میاشت، کې کارول شوې او د یوې خونې پر سر ۹۰۰۰ امریکائي ډالر دي هم توافق لري.

[34] **Chaudray, A** ( د ۲۰۰٦ کال اګست) د لیکونکي سره په شخصي توګه ارتباط نیول. USAID او DANIDA په ۲۰۰٤ – ۲۰۰۵ کال کې د کتابونو د چاپولو ۹,۱ میلیونه ډالره برنامه تمویل کړې او همدغه مشترکه پروژه د ۲۰۰٤-۰٦ کال لپاره د ۷,٦ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت ادامه لري. تمه کیږي چې دوی به د نوي نصاب ۱۱ میلیونه درسي کتابونه تولید کړي. خو باید وویل شي چې دغه تعداد به د ټولو زده کوونکو اړتیاوې پوره نکړي، که دغه حقیقت په پام کې ونیول شي چې په ابتدایه زد کړو کې د ۱۱ مضمونو لوست کیږي. (په ثانوي ښوونځي کې د ۱۷ مضمونو لوست کیږي). نو پدې توګه ۱۱ میلیونه کتابونه د ټولو زده کوونکو لپاره یواځې په دوه وو مضمونونو کې کتابونه برابروي.

[35] د نوي درسي نصاب معرفي کول، Pakistan Tribune، د اګست ۲۸ مه، ۲۰۰٦ کال

[36] **HRW** (2006) په ډار کې درس ویل: په افغانستان کې پر پوهنې باندې یرغل، ۱۸ ټوک ٦ (C) د بشر د حقوقو څیړنه ۳۵

[37] په ډاګه خبرې کول: د حقوقو او وجایبو په اړه د افغانانو نظریې، کابل، Human Rights Research and Advocacy Consortium, quoted in S. Kolhatkar and J. Podur (2005), Detestable Murders and Scumbags: Canada in Afghanistan, Z Net, December 5.

[38] **HRW** (2006) په ډار کې درس ویل: په افغانستان کې پر پوهنې باندې یرغل، ۱۸ ټوک ٦ (C) د بشر د حقوقو څیړنه ۳۵ مخ. خو باید پاملرنه وشي چې د ښوونځیو د سوزولو تائید شوې پیښې په نسبي ډول کمې دي او حتی ډیر لږې د دوی څخه تصدیق شوي دي. هغه څه چې ډیر اهمیت لري هغه د شپې له خوا د پاڼو خورول، ګواښ او ډارول دي چې ګواکې ښوونځي به وسوځول شي – چې د ښوونځیو د سوځولو په اندازه اغیزمن تمامیږي.

[39] **NRVA** (2005) National Risk and Vulnerability Assessment 2005 Central Statistics Office, Islamic Republic of Afghanistan.

[40] د وروستنيو ګټه اخيستونکو مصارف هغه لګښتونه دي چې د ښوونځيو د زده کوونکو په کتابونو، يونيفورم، بوټانو، تګ راتګ او خوړو باندې مصرفيږي. د وروستنيو ګټه اخيستونکو فيس هغه فيس دې چې د ښوونځي د مسئولينو لخوا معمولا په منظمه توګه د ښوونځي د کوچنيانو پر والدينو باندې اېښودل کيږي.

[41] **Hunte** (2005) Household Decision-Making and School Enrolment in Afghanistan, Case Study 3: Nesher Villages, Char Asyab District, Kabul Province, Case Study Series, Afghanistan Research and Evaluation Unt (AREU).

[42] **Hunte** (2005) Household Decision-Making and School Enrolment in Afghanistan, Case Study 3: Nesher Villages, Char Asyab District, Kabul Province, Case Study Series, Afghanistan Research and Evaluation Unt (AREU).

[43] پدې حالاتو کې فيس هغه فيس ته ويل کيږي چې د ښوونځيو د مسئولينو لخوا د ښوونځيو د کوچنيانو د والدينو څخه راټوليږي. دغه فيس د ښوونکو د تنخواوو، د ښوونځي د پاکولو او نورو مصارفو لپاره کارول کيږي. اکسفام د ۲۰۰٦ کال د مي او د جون په مياشتو کې د دايکندي په ولايت کې د يوې منظمې پوښتنپاڼې په کارولو سره چې د نيلي د ولسوالۍ په ۱۰۰ فيصده ښوونځيو کې او په عمومي توګه د ټولو ښوونځيو ٥ فيصده پوښښ ئې درلود او سرښوونکو له لپاره تنظيم شوې وه، يوه ابتدائي سروې وکړه. د شهرستان او خدر ولسوالۍ هم پدې سروې کې شاملې وې. د وروستنيو ګټه اخيستونکو فيس داسې تعريف شو: هغه فيس دې چې د ښوونځيو په زده کوونکو باندې په ښوونځيو کې د دوۍ د ګډون لپاره اېښودل کيږي.

[44] **HRRAC** (2004) Report Card**:** د اجباري پوهنې په برخه کې پرمختګ – د ۱-۹ پورې، د بشر د حقوقو څېړنې او ادوکسي کانسارتيوم د ۲۰۰٤ کال د مارچ مياشت *ښکاره کوي چې د کابل په ولايت کې لومړي ټولګي ته د يو زده کوونکي د لېږدولو منځني لګښت په کال کې ۳٥۰ افغانۍ (۷ ډالره) او ٥ ټولګي لپاره ۱۰۰۰ افغانۍ (۲۰ ډالره) او نهم ټولګي لپاره ۱۷۰۰ افغانۍ (۳٥ ډالره) دې.*

[45] *د افغانستان د مرکزي بانک مسئول نورالله دلاوري د وينا له مخې، د سرانه عوايد يا پر کپيټا په ۲۰۰٥-۰٦ کې ۲۹۳ ډالرو ته ورسيده. مرکزي بانک وايي چې احتمال لري د افغانستان سرانه عوايد زياتوالې ومومي.* Agence France-Presse, April 1, 2006 quoted in HRW (2006) *op.cit.*

[46] د اکسفام ابتدايي څېړنې (د ۲۰۰٦ کال سپتمبر) هم ښودلې چې د وړيا زده کړو پروګرامونو لکه APEP باندې د ګټه اخيستونکو په توګه فيس لګول کيږي.

[47] په زړه پورې ده چې د اطلاعاتو له مخې يوازې لغمان او پنجشير پدې اړه وروسته پاتې دي؛ د دې لپاره دلايل د دې پاڼې د توان څخه وتلې کار دې.

[48] **Uranos, B.** (2006) Poverty forces Afghan children to quit schools, e-Ariana, Pajhwok, 06/18/2006.

[49] **Hunte** (2005) Household Decision-Making and School Enrolment in Afghanistan, Case Study 3: Nesher Villages, Belcheragh District, Faryab Province, Case Study Series, Afghanistan Research and Evaluation Unt (AREU).

[50] **Junko, M.** (2005) Child nutrition in Afghanistan: My children are smaller than others, .www.unicefusa.orgArchive, Feature Stories: Malnutrition, UNICEF, Nov 9,

[51] **NRVA** (2005) National Risk and Vulnerability Assessment 2005 Central Statistics Office, Islamic Republic of Afghanistan.

[52] *د خلکو د نظر وړ قانوني فعالیت په ځواب کې چې د ټولنې د آزادۍ د خلق اتحادیې (راجستان) د ۲۰۰۱ کال په اپریل کې په لار اچول شوې وه، سترې محکمې د هندوستان ټولو ایالتي حکومتونو ته لارښونه وکړه تر څو د ورځې په نیمایي کې دې د حکومت په ټولو ښوونځیو کې ټولو زده کوونکو ته پاخه خواړه برابر کړي. د خوړو برابرولو دنده نا دولتي موسسو، ځینو ګروپونو، کورونو، او یا په ښوونځیو کې خدمو ته وسپارل شوه. د هندوستان هیواد ایالت راجستان کې د نجونو شمولیت د دغې برنامې د پیل څخه په یوه کال کې ۲۰ فیصده لوړ شو.* **Drèze, J.** (2004), 'Democracy and the Right To Food', *Economic and Political Weekly*, 24 April.

[53] **Senlis Afghanistan** ( 2006) Afghanistan: Five Years Later: The Return of the Taliban, Chapter II: Hunger Crisis: Extreme Poverty in Afghanistan, Sping/Summer 2006.

[54] **World Food Programme** (2006) http://www.wfp.org/country_brief/indexcountry.asp?country=004 .

[55] **Ebadi, E.** (2005) *op.cit.*

[56] دغه محاسبه په لاندینیو انګیرونو ولاړه ده: یو پاکټ شیدې چې ۱۱ افغانۍ لګښت لري ٤ زده کوونکو لپاره کار ورکوي او هر زده کوونکي همدارنګه د دوو مقوي بسکیټونو یو پاکټ چې ۲,٥ افغانۍ کیږي مصرفوي. د هر یو زده کوونکي پر سر د یو وخت د خواړو مصرف = 2.75 + 2.5 = 5.25 چې که چیرې دغه عدد دې یو کال په ۳۰۰ ورځو کې ضرب شي نو د یوه زده کوونکي پر سر به په یوه کال کې د ۰۷-۲۰۰٦ کال په ثابتو نرخونو کې ۱٥۷٥ افغانۍ یعنې ۳۲ امریکایي ډالره مصرف راشي. خواړه یوازې د لومړنیو او ثانوي ښوونځیو ته چې ټول زده کوونکي تر پوښښ لاندې راولي برابریږي.

[57] مالي کال د حمل په لومړۍ (د مارچ په ۲۱مه) شروع کیږي او د راتلونکي کال د حوت په میاشت کې ختمیږي. د هر کال په نیمایي کې د سنبلې په میاشت کې (اکتوبر او نوامبر کې) د اختصاص شوې بودجې څخه د مصرف شوو پیسو د معلوملو لپاره ارزونه کیږي چې د دې پر بنسټ بودجه تجدید کیږي. په میزان کې (اکتوبر او نوامبر کې) د مالیې وزارت د راتلونکي کال لپاره د بودجې د جوړولو چارې پیل کوي.

[58] معلومات د بیلابیلو سرچینو څخه د مالیې وزارت د داخلي تفتیش د ډیپارټمنټ په ګډون، د مرستندویانو د جلسو او په فردي توګه د کابینې د دارلانشا څخه د اړیکو د ټینګولو له لارې راټول شوي دي.

[59] احتیاطي پیسې (بیړنۍ پیسې) چې د اختیاري بودجې په نوم هم یادیږي، په اساسي بودجه کې د سعودي عربستان د حکومت، د آسیایي پرمختیایي بانک، نړیوال پرمختیایي بانک او د نړیوال بانک د مرستو او یا هم د پورونو څخه برابریږي.

[60] د مالیې وزارت د خزانې مدیریت د نیویارک په ښار کې یو بانکي حساب لري او هلته هر یوه مرستندویه ټولنه او یا هم هیواد که چیرې وغواړي د افغانستان په بیا رغومخ کې مرسته وکړي په هغې کې پیسې ذخیره کوي. وزارتونه خپل ځانګړې فردي کودونه لري چې هلته مالي وجوه د سکټور پر بنسټ د هر وزارت پورې اړوند کود ته لیږدول کیږي.

[61] تشکیل د کارکوونکو جوړښت او شمیر دې چې د چارو د ادارې د لوی ریاست او د وزیرانو د شورا د دارلانشا له خوا د وزارت سره په خبرو اترو په ترڅ کې ټاکل کیږي

[62] د بدخشان د پوهنې ولایتي مدیریت، ۲۰۰٦ کال د اپریل د میاشتې ٤ مه، د پوهنې مدیر سره په غونډه کې.

[63] د بدخشان مستوفیت سره غونډه، د ۲۰۰٦ کال د اپریل میاشت.

[64] د ولسوالیو او ولایتونو د پوهنې د مدیریتونو او د ۲۰۰٦ کال د اپریل په میاشت کې د ښوونکو سره په مرکه کې. د ولسوالیو خزانه داران په ولایتونو کې د ښوونکو د معاشونو لپاره د پیسو د تر لاسه کولو لپاره ۱٥ څخه تر ۲۰ ورځو پورې تیروي او د مستوفیت له خوا د ۲۰ څخه تر ۳۰ افغانۍ د ښوونکو د معاشونو څخه ګرځول کیږي. سر بیره پر دغه پیسو د اړوند خزانه دار لخوا د مستوفیت د پیسو دوه برابره زیاتې پیسې د سفریې او د ترانسپورت د مصارفو د پوره کولو لپاره ګرځوي.

[65] د ۲۰۰٦ کال د جولای میاشت کې په دایکندي کې د اکسفام ابتدائي څیړنه

66 **Nawa, F.** (2006) Afghanistan Inc: A CorpWatch Investigative Report, April quoting Alastair McKechnie, the World Bank country director for Afghanistan.

67 *Ibid.*

68 کربلائي، م. د ۲۰۰٦ کال د اپریل میاشت، د پوهني وزارت در پلان مدیر سره مرکه.

69 انتر اکشن چي د ۱۵۹ ادارو د ائتلاف، د بې سرحده ډاکټرانو په ګډون، څخه جوړه شوې ده، د پاملرني او د اکسفام امریکا باور نلري چي د ولایتي بیارغوني د ټیمونو پوځي غړي دې په بشري او بیارغونو کارونو کي ښکیل شي.

70 **Thalif, D.** (2004) Afghan Aid as a Military Weapon, Central Asia, Asia Times Online, August 5 and Tomkins Richard (undated), Troops trying to win hearts and minds.

71 د کابیني د دارلانشا څخه معلومات د ټلیفون د مرکي په ترڅ کي (د ۲۰۰٦ کال د مارچ په میاشت کي) ترلاسه شو. دغه موضوع د مالیي وزیر، د چارو د اداري لوی ریاست او د کابیني دارالانشا لخوا په ۱۳۸٤ کي د بودجي د کال د نیمایي د ارزوني په ترڅ کي په ډاګه شوه. **Pounds, N** " پیسي چیرې ځي؟ په افغانستان کي نادولتي موسسو ته د مرستو د بهیر مطالعه " چاپ شوې ندې، د ۲۰۰٦ کال.

72 **Pounds, N** " پیسي چیرې ځي؟ په افغانستان کي نادولتي موسسو ته د مرستو د بهیر مطالعه " چاپ شوې ندې، د ۲۰۰٦ کال.

73 افغانستان: د پرمختګ لپاره د مالي اداري تنظیم (په پنځه ټوکونو کي) څلورم ټوک: د عامه مالي منجمنت ښه والي. د ټاکلو سکټورونو د قضیو مطالعه p24-50 ، نړیوال بانک

74 د اکسفام ابتدائي سروې د ۲۰۰٦ کال *op.cit* ,

د دې سند لپاره څېړنه د ۲۰۰٦ کال د فبرورۍ څخه تر سپتمبر میاشتې پورې تر سره شوې ده. پدې کې یو زیات شمیر مرستندویانو، نادولتي موسسو او همدارنګه د حکومت د چارواکو سره د بودجې د ایستلو د بهیر په اړه مرکې او غونډې شاملې وې.

سربیره پر دې د اکسفام د کارکوونکو لخوا په دریو ولایتونو کې یعنې کندهار، بدخشان او دایکندي کې سروې ګانې تر سره کړې. په هر ولایت کې د ټول ولایت څخه د نمونې په توګه ٥ فیصده ښوونځې د یو شمیر ولسوالیو څخه وټاکل شوې. سربیره پر دې یوه ولسوالي په بشپړه توګه د نمونې په ډول وټاکل شوه.

په کندهار کې د نمونې په توګه کارول شویو ناحیو کې، دوهمه ناحیه، د کندهار ښار، ډنډ، درمان او ارغنداب ناحیې شاملې وې. دغه راز په بدخشان کې د نمونې په ډول ټاکل شوې ولسوالیو کې د یامان، شهرې بزرګ، او حوزه ئې مرکزې ناحیې شاملې وې. په دایکندې کې د نیلي، شارستان او د خدر ولسوالی د نمونې په توګه ټاکل شوې وې.

اکسفام انترنشنل د ۲۰۰٦ کال د اکتوبر میاشت

دغه سند **بصیره مجددۍ** د سواتي ناریان کریسشن دینیس، محمد علي روشان، روقیه عزیزي، سید محمد شاه، اني لانسیلوت، بالاسوبرامانیم، مورالیداران، بن فیلیپ، سارا آیرلند، شیلا ایکمن، بریجیت اوبیر تاپ، کیني رې، جکي هاردویګ او د ښوونځیو د ټولو ښوونکو او د هغو چاراواکو په مرسته چې د دې پروژې د یوې برخې په توګه ورسره مرکه شوې وه لیکل شوې دې. دغه سند د هغو سندونو د د لیکلو د لړۍ یوه برخه ده کوم چې عامه افکار، د پرمختیا او بشري پالیسي مسایلو سره آشنا کوي. د دې متن څخه کیدای شي په وړیا توګه د کمپاین، زده کړو او څیړنو لپاره ګټه واخیستل شي پدې شرط چې د د دې سرچینه په بشپړه توګه ولیکل شي.

www.oxfaminternational.org

د آکسفام نړيواله اداره د ۱۳ ادارو څخه جوړه يوه اتحاديه ده چې د ۱۰۰ څخه په زياتو هيوادونو کې کار کوي . آکسفام امريکا، آکسفام آستراليا، آکسفام بلجيم، آکسفام کانادا، آکسفام فرانسه – اجير ايسي، آکسفام جرمني، آکسفام بريتانيا، آکسفام هانکانګ، انفارميشن آکسفام (اسپانيا)، آکسفام ايرلند، آکسفام نيوزيلند، آکسفام نويب (هالند) او آکسفام کويبک. مهرباني وکړی د زياتو معلوماتو لپاره نومړو ادارو ته تليفون وکړي او يا ورته وليکئ او يا هم د www.oxfam.org ويب پاڼې ته کتنه وکړئ.

| | |
|---|---|
| **Oxfam America**<br>226 Causeway Street, 5th Floor<br>Boston, MA 02114-2206, USA<br>+1 800-77-OXFAM \| +1 617-482-1211<br>E-mail: info@oxfamamerica.org<br>www.oxfamamerica.org | **Oxfam Hong Kong**<br>17/fl., China United Centre, 28 Marble Road, North Point, Hong Kong<br>Tel: +852.2520.2525<br>E-mail: info@oxfam.org.hk<br>www.oxfam.org.hk |
| **Oxfam Australia**<br>156 George St., Fitzroy, Victoria 3065, Australia<br>Tel: +61.3.9289.9444<br>E-mail: enquire@oxfam.org.au<br>www.oxfam.org.au | **Intermón Oxfam (Spain)**<br>Roger de Llúria 15, 08010, Barcelona, Spain<br>Tel: +34.902.330.331<br>E-mail: info@intermonoxfam.org<br>www.intermonoxfam.org |
| **Oxfam-in-Belgium**<br>Rue des Quatre Vents 60, 1080 Brussels, Belgium<br>Tel: +32.2.501.6700<br>E-mail: oxfamsol@oxfamsol.be<br>www.oxfamsol.be | **Oxfam Ireland**<br>Dublin Office, 9 Burgh Quay, Dublin 2, Ireland<br>Tel: +353.1.672.7662<br>Belfast Office, 115 North St, Belfast BT1 1ND, UK<br>Tel: +44.28.9023.0220<br>E-mail: communications@oxfamireland.org<br>www.oxfamireland.org |
| **Oxfam Canada**<br>250 City Centre Ave, Suite 400, Ottawa, Ontario, K1R 6K7, Canada<br>Tel: +1.613.237.5236<br>E-mail: info@oxfam.ca<br>www.oxfam.ca | **Oxfam New Zealand**<br>PO Box 68357, Auckland 1032, New Zealand<br>Tel: +64.9.355.6500 (Toll-free 0800 400 666)<br>E-mail: oxfam@oxfam.org.nz<br>www.oxfam.org.nz |
| **Oxfam France - Agir ici**<br>104 rue Oberkampf, 75011 Paris, France<br>Tel: + 33 1 56 98 24 40.<br>E-mail: info@oxfamfrance.org<br>www.oxfamfrance.org | **Oxfam Novib (Netherlands)**<br>Mauritskade 9, Postbus 30919, 2500 GX, The Hague, The Netherlands<br>Tel: +31.70.342.1621<br>E-mail: info@oxfamnovib.nl<br>www.oxfamnovib.nl |
| **Oxfam Germany**<br>Greifswalder Str. 33a, 10405 Berlin, Germany<br>Tel: +49.30.428.50621<br>E-mail: info@oxfam.de<br>www.oxfam.de | **Oxfam Québec**<br>2330 rue Notre Dame Ouest, bureau 200, Montréal, Quebec, H3J 2Y2, Canada<br>Tel: +1.514.937.1614<br>E-mail: info@oxfam.qc.ca<br>www.oxfam.qc.ca |
| **Oxfam GB**<br>Oxfam House, John Smith Drive, Cowley, Oxford, OX4 2JY, UK<br>Tel: +44 (0)1865.473727<br>E-mail: enquiries@oxfam.org.uk<br>www.oxfam.org.uk | |

**Oxfam International Secretariat**: Suite 20, 266 Banbury Road, Oxford, OX2 7DL, UK
Tel: +44.(0)1865.339100. Email: information@oxfaminternational.org. Web site: www.oxfam.org

**Oxfam International advocacy offices:**
E-mail: advocacy@oxfaminternational.org
**Washington**: 1100 15th St., NW, Ste. 600, Washington, DC 20005-1759, USA, Tel: +1.202.496.1170.
**Brussels**: 22 rue de Commerce, 1000 Brussels, Belgium, Tel: +322.502.0391.
**Geneva**: 15 rue des Savoises, 1205 Geneva, Switzerland, Tel: +41.22.321.2371.
**New York**: 355 Lexington Avenue, 3rd Floor, New York, NY 10017, USA, Tel: +1.212.687.2091.

**Linked Oxfam organizations.** The following organizations are linked to Oxfam International:
**Oxfam Japan** Maruko bldg. 2F, 1-20-6, Higashi-Ueno, Taito-ku, Tokyo 110-0015, Japan
Tel: + 81.3.3834.1556. E-mail: info@oxfam.jp Web site: www.oxfam.jp
**Oxfam India** B55, First Floor, Shivalik, New Delhi, 1100-17, India
Tel: + 91.11.26693 763. E-mail: info@oxfamint.org.in Web site: www.oxfamint.org.in

**Oxfam observer member.** The following organization is currently an observer member of Oxfam International, working towards possible full affiliation:
**Fundación Rostros y Voces (México)** Alabama No. 105 (esquina con Missouri), Col. Nápoles, C.P. 03810 México, D.F.
Tel/Fax: + 52 55 687 3002. E-mail: communicacion@rostrosyvoces.org Web site: www.rostrosyvoces.org

د آکسفام نړیواله اداره د ۱۳ ادارو څخه جوړه یوه اتحادیه ده چې د ۱۰۰ څخه په زیاتو هیوادونو کې کار کوي . آکسفام امریکا، آکسفام آسترالیا، آکسفام بلجیم، آکسفام کانادا، آکسفام فرانسه – اجیر ایسي، آکسفام جرمني، آکسفام بریتانیا، آکسفام هانکانگ، انفارمیشن آکسفام (اسپانیا)، آکسفام ایرلند، آکسفام نیوزیلند، آکسفام نویب (هالند) او آکسفام کوبیک.

© **Oxfam International 2006** www.oxfam.org